## کتاب پېژندنه

**د کتاب نوم:** اقتصادي جغرافیه
**څانګه:** اقتصاد او تجارت
**مولف:** نورالله ابراهیمی
**ژباړن:** خادم احمد حقیقی

**د څار کمېټه:**

- محمد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزابي د تعلیمي نصاب رییس
- محمد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

**د تصحیح کمېټه:**

- خادم احمد حققی
- عبدالجمیل ممتاز

**د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسئول :** محمد جان علیرضایي
**ګرافیک او ډیزاین:** محمد سلیم خان
**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمریز کال
**تیراژ:** ۳۰۰۰
**چاپ ځل:** لومړی
**وېب پاڼه:** www.dmtvet.gov.af
**برېښنالیک:** info@dmtvet.gov.af
کډ ISBN: ۹۷۸۹۹۳۶۳۰۰۵۲۱

Ketabton.com

د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی

کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی

دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو

د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو

ور سره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان

براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان

دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان

په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان

نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنې وزير پيغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د يوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پياوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زيار پورې تړلي دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هيواد انکشافي اهدافو ته د رسيدو لارې چارې طی کوي او د يوه نيکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمينوي.

انسان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انساني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د يوه سوکاله ژوند د اسبابو او ايجاباتو د تکميل لپاره خپل اغيزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

له همدې ځايه ده چې د يوه ژوندي او فعال انسان نقش، د خپل ژوند د چاپيريال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هيڅ حالت کې نه نفی کيږي او نه هم منقطع کيږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت مسووليت او مکلفيت لري چې د اسلامي ارزښتونو، احکامو او همداراز معقولو او مشروعو قوانينو ته په ژمنتيا سره، د افغانستان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ستر او سپيڅلي هدف ته د رسيدو په خاطر د انساني ظرفيت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنيکي کادرونو روزنه او پراختيا يو اړين مقصد دی. همدا په تخنيکي او مسلکي زده کړو مزين تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سيستماتيک ډول د هيواد انکشاف محقق او ميسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنيز نظام د اسلام له سپيڅلو احکامو څخه الهام اخيستی، نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي بايد په علمي معيارونو داسې اساس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نسل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړيتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفيت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربيت او په سوچه اسلامي روحيې د هغوی پالنه نه يوازې پخپل ذات کې يوه اساسي وجيبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه يې وژغوري او د نورو له سياسي او اقتصادي احتياج څخه يې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه استادان او مربيون بايد په بشپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نيکمرغه افغانستان ارمان، يوازې او يوازې د دوی په پياوړو متو، ويښ احساس او نه ستړي کيدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنيکي زده کړو له امله کيدای شي په ډيرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصاب له ټولو ليکوالانو، مولفينو، ژباړونکو، سموونکو او تدقيق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهير کې د ټولو کورنيو او بهرنيو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرستو څخه د زړه له کومې مننه کوم. له درنو او پياوړو استادانو څخه رجامندانه هيله کوم چې د دې نصاب په ګټور تدريس او فعاله تدريب سره دې د زړه په ټول خلوص، صميمي هڅو او وجداني پيکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.
د نيکمرغه، مرفه، پرمختللي او وياړمن افغانستان په هيله

**فاروق وردګ**
**د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| څپرکي | سرلیکونه | پاڼې |
|---|---|---|
| لومړی | د افغانستان اقتصادي جغرافیه | ۱-۸ |
| دویم | په افغانستان کې کرنه | ۹-۲۰ |
| درېیم | د افغانستان کانونه | ۲۱-۲۸ |
| څلورم | د افغانستان صنایع | ۲۹-۳۸ |
| پنځم | په افغانستان کې سوداګري او مواصلات | ۳۹-۵٤ |
| شپږم | د نړۍ مهم بندرونه | ۵۵-٦٤ |
| | سرچینې او اخیستنې | ٦۵ |
| | د ښوونیز نصاب د پراختیا د ریاست پیغام | ٦٦ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مقدمه:**

د افغانستان لرغونی هېواد د اسیا په مرکزي سیمه کې د خپل مناسب جغرافیایي موقعیت، اقلیمي مساعدتوب او نورو طبیعي شرایطو له مخې د انساني ژوندانه او ورپسې د پوهې او بشري فرهنګ د غوړېدا لپاره مناسبې زمینې برابره کړې دي او په دې توګه په نړۍ کې د دې سیمې د اقتصاد او سیاست په تاریخ کې د پام وړ ونډه ادا کړې ده. تاریخي شواهد څرګندوي، چې ان په اوسني عصر کې هم د دغه هېواد یو زیات شمېر وګړي، په سمسورو درو او رغو کې ژوند کوي او وخت ناوخت د خپلې تفریح په موخه پر ښکار هم لاس پورې کوي.

همدا خلک بیا په کرنیزو چارو پیل کوي او د ډېر وخت لپاره د هېواد د بېلابېلو کرنیزو توکو د تولید او صادرولو په برخه کې د پام وړ ونډه پر غاړه لرلې ده.

دغه هېواد د نړیوالې سوداګرۍ له پراختیا سره د مدنیت د لویو مرکزونو لکه هند، چین او نژدې ختیځ په منځ کې د خپل جغرافیایي موقعیت له مخې، بیا هم حساسه سوداګریزه او سوق الجیشي ارزښت لرلی؛ د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د ښاري لویو مرکزونو رامنځته کېدل او پراختیا له همدې ډول ترانزیټي سوداګرۍ سره تړاو لري.

افغانستان د خپل مناسب موقعیت، مساعد اقلیم، لوړو غرونو، شنو درو، څپاندو سیندونو او د نباتاتو او ځارویو د بېلابېلو نسلونو په درلودلو سره، له ډېرو لرغونو مودو راهیسې د بشري استوګنې او فعالیتونو پر سیمه بدل شوی دی. له همدې امله دغه هېواد د نورو اسیایي هېوادونو په څېر ډېره تاریخي مخینه لري او د بشري تمدنونو له اړخه د پام وړ سیمه بلل کېږي. پر دې بنسټ، د افغانستان د ټولو وګړو په ځانګړي توګه د محصلینو لپاره د ټولو پدېدو له پېژندنې سره د اقتصادي جغرافیې مطالعه یو اړین امر بلل کېږي په دې توګه هڅه شوې، چې په دغه کتاب کې په ځانګړې توګه د سوداګرۍ اقتصاد په ځانګه کې د ادارې او حسابدارۍ د انستیتوت د محصلینو د عمومي اړتیاوو له مخې، زیات اقتصادي موضوعات په پام کې ونیول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د كتاب ټوليزه موخه:**

د افغانستان د اقتصادي جغرافيايې د موضوعاتو او مفاهيمو په اړه د لازمو معلوماتو تر لاسه كول

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د افغانستان اقتصادي جغرافیه

**ټولیزه موخه:**
د جغرافیې د کلمې، د افغانستان د جغرافیې، اقتصادي ارزښت، طبیعي منابعو او په افغانستان کې ترې دګټې اخیستلو د څرنګوالي او استحصال په اړه درک او پوهېدل.

**د زده کړې موخې:** ددغه څپرکي په پای کې له محصلینو نه تمه کېږي چې:

- د طبیعي منابعو د اقتصادي ارزښت په اړه معلومات تر لاسه کړي.
- د افغانستان د جغرافیې په اړه ټولیز معلومات تر لاسه کړي.
- د هېواد د کانونو په اړه معلومات تر لاسه کړي.
- په هېواد کې له کاني توکو څخه د ګټې اخیستنې پر څرنګوالي وپوهیږي.

### د جغرافیې اصطلاحي معنا او مفهوم ته یوه کتنه

د جغرافیې دکلمې معنا ، مفهوم او ریښه: جغرافیه په ار کې یوناني کلمه ده او د (جزوګرافیا) په بڼه راغلې ، په عربي ژبه کې د (الجغرافیه) په بڼه کارول شوې؛ په پښتو ژبه کې د جغرافیې د کلمې دواړه بڼې متداولې او په یوه معنا راغلي دي.

۱- Geo مختاړی دی، چې د (ځمکې) یا خاورې په معنا کارول شوی او کله کله د جغرافیې معنا هم افاده کوي.

۲- Graphy وروستاړی دی. چې د هنر، پوهې، شرحه ورکولو، ننداري ته وړاندې کولو او د علم او پوهې د لنډیز په معناوو کارول شوی. پر دې بنسټ، د دغې کلمې معنا هغه(فن یا علم) دی، چې په ټولیزه توګه د ځمکې د حالاتو په اړه دبحث معنا ترې اخیستل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د جغرافيې تعريف:** جغرافيه له هغه علم څخه عبارت ده، چې موږ د ځمکې له شکل او هغو لاملونو سره آشنا کوي، چې د ځمکې د حالاتو په بدلونونو او تغيراتو کې ونډه لري.

### د افغانستان جغرافيه

د افغانستان اسلامي هېواد، چې د اسيا په زړه کې موقعيت لري، په ټوليزه توګه په وچه پورې تړلی او يو غرنی هېواد دی. دغه هېواد په شمالي نيمه کره او ختيځه نيمه کره کې د منځنۍ اسيا په محدوده کې موقعيت لري. د دغه هېواد مساحت په بېلابېلو منابعو کې له ۶۲۰ تر ۷۰۰ زرو کيلومترو پورې ذکر شوی دی.

له دې ټولو سره سره، ۶۵۲۲۲۵ کيلو متره مربع مساحت لري، چې د نړۍ څلوېښتم هېواد ګڼل کېږي. د افغانستان پولې ۵۸۰۰ کيلومترو ته رسېږي، چې په شمال کې ۲۳۸۳ کيلو متره له تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان هېوادونو؛ په ختيځ او سويل کې ۲۲۴۰ کيلومتره د پاکستان له اسلامي جمهوري هيواد سره ، په شمال ختيځه برخه کې د ۳۷ کيلومترو په واټن د واخان تنګي له لارې د چين له هېواد سره او په لويديځ کې له ۵۵ تر ۹۳۰ کيلومتره پورې د ايران له هېواد سره ګډې پولې لري.

افغانستان چې په وچه پورې تړلی او يو غرنی هېواد دی، د هندوکش په څېر لوړ غرونه لري، چې په لوړو څوکو کې يې هم په ژمي او هم په دوبي کې واوره پرته وي. د هندوکش د غرونو په منځ کې ډېرې ژورې او سمسورې درې شته، چې د ښې هوا په درلودلو سره د څارويو د روزنې او د ميوو د توليد لپاره مناسب چاپېريال ګڼل کېږي.

افغانستان  د افراط او تفريط ځمکه ده، دغه هېواد د اسمانڅکو غرونو، ژورو درو، پسرلنيو بارانونو، وچ او ګرم دوبي، ډېر سوړ ژمي، د ټول کال په بهير کې پر واورو پوښل شويو ارتفاعاتو او لوړو، ټيټو او ګرمو سطحو په درلودلو سره، د دغې سيمې د وګړو په ټولنيز ژوندانه کې د افراط او تفريط لپاره زمينه برابره کړې ده.

افغانستان د تاريخ په بهير کې پر هند د بريدونو معبر پاتې شوی، زياترو جنګياليو اميرانو او امپراتورانو لکه مقدوني سکندر، محمود غزنوي، ګورګاني تيمور او نادر افشار د همدې هېواد د درو او غرو له لووړو او ژورو څخه په تېرېدو سره ځانونه د هند لويې وچې ته رسولي. همدارنګه افغانستان د وربښمو د کاروانونو د تګ راتګ د لارې په توګه پاتې شوی، چې له همدې لارې به کاروانونو له کندهاره هندوستان ته او له بلخ څخه چين ته تګ راتګ درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د اقتصادي جغرافیې مبادي:**

دغه علم د انساني جغرافیې یوه څانګه ده، چې له بېلابېلو تولیداتو، وېشنو او لګښتونو څخه بحث کوي. باید څرګنده کړو، چې دغه علم له هغو بحثونو سره کره توپیر لري، چې په اقتصاد علم کې ترې بحث کېږي؛ ځکه د اقتصاد علم په ټولیزه توګه د لګښت د څرنګوالي په تړاو انساني هڅې، د اقتصادي پدېدو ترمنځ اړیکې او په پای کې د دغه علم تیوري او فلسفه څېړي. په داسې حال کې چې اقتصادي جغرافیه د نړۍ په بېلابېلو سیمو کې د تولید، وېش او لګښت په تړاو د انساني هڅو د پایلو په اړه معلومات وړاندې کوي.

په بل عبارت؛ اقتصادي جغرافیه کوم کتاب نه دی، چې پکې له اقتصادي تیوریو او نظریو څخه بحث وشي، بلکې د مشاهداتو او ملاحظاتو کتاب دی. هغه ملاحظات چې د اقلیم او نورو جغرافیایي لاملونو او د اقلیمي ځانګړتیاوو پېژندنه او پر کرنیزو محصولاتو د څارویو پر روزنې اغېږي؛ لکه د اوبو او خاورې په شان د طبیعي منابعو پېژندنه او د کرنیزو صنعتي او طبیعي منابعو د محصولاتو لارې، مواصلات او ترانسپورټ او د سون قوې د تولید لپاره د نفتي توکو او اوبه پېژندنه په خپله غېږه کې را نغاړي.. همدارنګه په اقتصادي جغرافیه کې د انسانانو شتون باید له پامه و نه غورځوو. د دولتونو شتون او سیاسي پرېکړې یکې د اقتصادي او ټولنیزو تغیراتو له اصلي لاملونو څخه ګڼل کېږي، چې دغه دخالتونه او لاسوهنې د تولیداتو په کچه، د لېږدونې پر سطحه او له ځمکې او طبیعي منابعو څخه د ګټې اخیستنې پر څرنګوالي زیاتې اغېزې لري.

دلته اقتصادي جغرافیه په لاندې توګه تعریف شوېده: اقتصادي جغرافیه هغه علم دی، چې له ټولو بېلابېلو موضوعاتو څخه بحث کوي او تر ځمکې لاندې منابع، تولید شوي توکي، د ځمکې پر مخ انساني تړاوونه او اړیکې، تولید، لګښت او د تولید ډولونه تر څېړنې لاندې نیسي.

له هغه ځایه چې اقتصادي جغرافیه د ټولنیزو علومو یوه څانګه ده، نو له نورو جغرافیو سره هم تړاو لري. موږ کولی شو، له فزیکي جغرافیې چې له کایناتو سره د انسانانو اړیکې ټینګوي، سیاسي جغرافیه چې د یوه هېواد برخلیک تر څېړنې لاندې نیسي، بشري جغرافیه چې د هېواد له وګړو سره د یوه انسان اړیکې څېړي، صنعتي جغرافیه چې له کانونو سره مستقیمه اړیکه لري او کرنیزه جغرافیه چې د یوه هېواد کرنې تر خپل پوښښ لاندې راولي، د بېلګې په توګه یې نومونه واخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې باید د دې یادونه هم وکړو، چې په اقتصادي جغرافیه کې د چاپېریال مساحت، د تولید کچه او د انسانانو د اقتصادي کړنو د شومره والي او څرنګوالي لاملونه، د یوې تصدۍ لپاره د اصلي وسایلو په توګه په پام کې نیول کېږي. په لنډه توګه ویلی شو، چې اقتصادي جغرافیه څلور عمده څانګې لري، چې په لاندې توګه دي:

۱- صنعتي جغرافیه.

۲- د لارو او ارتباطاتو (د مواصلاتو) جغرافیه.

۳- د مبادلاتو او سوداګرۍ جغرافیه.

۴- کرنیزه جغرافیه.

**د یوه هېواد اقتصادي ځواک:**

د یوه هېواد طبیعي زېرمې او سرچینې، د هغه هېواد د ملي او اقتصادي ځواک بنسټ جوړوي. خو باید هېره نه کړو؛ هغه طبیعي منابع، چې تر ځمکې لاندې شتون لري او ګټې اخیستنې ته نه وي وړاندې شوي په هېڅ ډول نه شي کولی، چې په خپل ذات د یوه هېواد د پرمختګ او پرمختیا ضامن وګرځي. مګر تر څو چې وګړي یې په خپله د خپل هېواد د طبیعي منابعو په اړه بشپړ معلومات ولري او په راایستلو سره یې ګټې اخیستنې ته وړاندې کړي.

په دې توګه د هر هېواد په اقتصادي غوړېدا او پرمختیا کې انساني ځواک تر بل هرڅه زیات ارزښت لري. دې ته په پام سره ویلی شو، چې زیاتره هېوادونه کرنیزې ځمکې لري، خو په عمل کې یوازې په څو محدودو هېوادونو کې کرنې پرمختګ کړی او د اقتصادي ځواک بنسټ یې ایښی دی. په دې توګه یې د صنایعو په څانګړي ډول د غذایي صنایعو او نساجي صنایعو د پرمختیا لپاره یې وړ او مناسبې زمینې برابرې کړي دي.

دا په بشپړه توګه جوته ده، چې په اوسنۍ نړۍ کې شتمنۍ د قدرت یو ډول دی او یا دا چې په اسانۍ سره کېدای شي، په قدرت باندې بدل شي. په دې توګه شتمن هېوادونه لکه هغه هېوادونه، چې زیات وګړي لري او یا له پریمانو طبیعي منابعو څخه برخمن دي، د هغو هېوادونو په پرتله چې له یادو منابعو څخه بې برخې دي، ځواکمن ګڼل کیږي. خو دا هم باید په یاد ولرو، چې دولتي شتمني، طبیعي منابع او ناخالص عایدات لرل، نه شو کولی په شتمنیو وشمېرو.

د یوه هېواد د ملي او اقتصادي ځواک د غوړېدا او پرمختیا عمده لاملونه په لاندې توګه دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- ماهر او نوښتګر انساني ځواک.
۲- توليدي ظرفيت.
۳- صنايع
۴- کرنه.
۵- ارتباطي او د تګ راتګ لارې.

**ماهر او نوښتګر انساني ځواک:**

په اقتصادي جغرافيه کې ماهر او نوښتګر انساني ځواک، د ملي ځواک لپاره زمينې برابروي. په دې کې شک نشته، چې د يوه دولت تر ټولو مهمه شتمني، انساني ځواک او انساني منابع دي.

د کانونو راسپړل او رايستنه او په ثروت باندې يې بدلول، په مستقيمه توګه د يوه هېواد د انساني ځواک د وړتياوو، مهارتونو او پوهې له کچې سره تړاو لري. که يو هېواد له دغه اړخه کمزورى وي، نو د خپلو طبيعي منابعو د را ايستلو او ګټې اخيستلو لپاره، د نورو هېوادونو انساني ځواک ته اړ کېږي، چې دا لړۍ په خپله په دغه هېواد کې، د يو شمېر ځواکمنو هېوادونو او دولتونو سياليو ته لاره اواروي. د بېلګې په توګه، د نړۍ له نفت لرونکو هېوادونو څخه، د فارس خليج د سويل عربي هېوادونو، د نفتو او ګازو بډايې زېرمې نه يوازې د يادو هېوادونو د اقتصادي ځواکمنتيا لامل نه دى ګرځېدلى، بلکې په ياده سيمه کې د نورو ځواکمنو هېوادونو د تلپاتو سياليو لپاره يې مناسبې زمينې برابرې کړې دي؛ له بلې خوا يو شمېر نور هېوادونه، چې بيا د طبيعي زېرمو له درلودلو څخه بې برخې دي، د مجرب انساني ځواک او  د نويو تخنيکي مهارتونو په درلودلو سره پر دې توانېدلي چې، له هغو معدني موادو څخه په ګټه اخيستنې سره، چې له نورو هېوادونو څخه يې واردوي خپل اقتصادي ځواک لوړ کړي؛ لکه د زياترو اروپايي هېوادونو په شان.

**توليدي ظرفيت:** د دې لپاره چې يو هېواد ځواکمن وي، اړينه ده چې توليدي ظرفيت يې په هغې کچه وي، چې نه يوازې خپلې کورنيزې اړتياوې پرې پوره کړي، بلکې نور اضافي توليد هم ولري، څو د سولې پرمهال ترې ګټه واخلي. له همدې امله ده، چې د نړۍ زياتره صنعتي هېوادونه، نفتي مواد زېرمه کوي.

**صنايع:** د هغو عمده لاملونو په پام کې نيولو سره، چې د اراضي جوړښت او بڼې او تر ځمکې لاندې منابعو( معدني موادو) په ګډون، مهمې کرنيزې او حيواني منابع، د ځنګلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شتون، د کافي اوبو موجودیت، د اقلیم او هوا سمون (توافق) او د بشري ځواک شتون په خپله غېږه کې را نغاړي، ټول د صنايعو په غوړېدا او پراختيا کې ارزښتناکه ونډه لري. په دې توګه، کله چې د پورتنيو لاملونو په پام کې نيولو سره د افغانستان شرايط تر څېړنې لاندې ونيول شي، ويلي شو چې زموږ هېواد د صنعتي کېدو لپاره ډېرې ښې زمينې شته.

اوسمهال په هېواد او نړۍ کې منابع په دوو بنو وجود مومي او همدارنګه په هېواد کې د صنايعو د ارزښت او اهميت په اړه بايد ووايو، چې زياتره منابع استراتيژيک اهميت لري، چې هر هېواد په لرلو سره يې کولي شي، پر نورو هېوادونو باندې خپل سياست تحميل کړي. لکه څرنګه چې تاسې پوهېږئ، څو لسيزې وړاندې د وسپنې د ويلې کېدو، د وسپنې تصفيه، بيړۍ جوړول، فولاد جوړول، پوځي او برېښنايي منابع له ټرټولو مهمو صنايعو څخه ګڼل کېدل، چې د سياسي او اقتصادي اهميت درلودونکي هم وو، خو نن ورځ د علم او ټکنالوژۍ په برخه کې د هغو لويو او چټکو بدلونونو په پايله کې، چې په دې وروستيو کې رامنځ ته شوي، نور د فولاد جوړونې او د وسپنې ويلي کولو صنايع نه يوازې د ستراتيژيکو صنايعو په ډله کې نه شمېرل کېږي، بلکې د چاپېريال د ککړوالي د اغېزو له امله، اوسمهال صنعتي هېوادونه دې ته چمتو دي، چې دغه صنايع د وسپنې ويلي کول او فولاد جوړول کوچنيو دولتونو ته وسپاري.

**کرنه:** په نړۍ کې هېڅ هېواد نه شي کولی، چې د هېواد په دننه له خپلو ټولو کرنيزو محصولاتو څخه د خپلو صنايعو لپاره اومه توکي برابر کړي، هر هېواد چې په هره بڼه او هره کچه وي، له نورو هېوادونو سره سوداګريزې اړيکې لري او د دغو اړيکو بنسټ هغه اړتيا ده، چې ولسونه د توکو د راکړې ورکړې په برخه کې يې يو بل ته لري. همدارنګه بايد ووايو، چې کرنه د يوه هېواد په پرمختګ او غوړېدا کې يو مهم رکن بلل کېږي؛ په ځانګړې توګه، کرنه د يو هېواد د اقتصادي کېدو او صنعتي کېدو پيلامه جوړوي. په هغه وخت کې، چې د يوه هېواد کرنې ته جدي او ځانګړې پاملرنه و نه شي، نو د پرمختګ او پرمختيا هيله يې هم يو خوب دی او بس.

ترانسپورټي مواصلاتي لارې: مواصلاتي لارې هم د يوه  هېواد د پرمختګ له مهمو او عمدو لاملونو څخه ګڼل کېږي؛ ځکه مواصلاتي لارې د يو هېواد پرمختيايي، اقتصادي، ټولنيزې او په پای کی سياسي زيربناوې جوړوي. په يوه هېواد کی د مواصلاتي لارو پراختيا او پرمختيا زيات اهميت لري؛ ځکه د مواصلاتي کرښو له شتون پرته د يو هېواد د صنعت پرمختيا ناشوني ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لومړي څپرکي لنډیز**

**د اقتصادي جغرافیې مبادي:** د افغانستان اقتصادي جغرافیه د انساني جغرافیې یوه څانګه ده، چې له بېلابېلو تولیدونو، وېشنو او لګښتونو څخه بحث کوي؛ باید یادونه وکړو، چې اقتصادي جغرافیه، د اقلیمي مشاهداتو او کتنو او نورو جغرافیوي لاملونو په نسبت، د طبیعي سرچینو لکه اوبه، خاوره، ځنګل، لوړو ځمکو، کانونو پېژندل دی او همدارنګه اقلیمي ځانګړتیاوو او پر کرنیزو محصولاتو او د څارویو پر روزنې باندي دهغو د اغیزو پېژندګلوی ده.

اقتصادي جغرافیه څلور مهمې څانګې لري، چې په لاندې توګه ترې یادونه کېږي:

۱- کرنیزه جغرافیه.
۲- صنعتي جغرافیه.
۳- د ارتباطاتو جغرافیه.
۴- د سوداګریزو مبادلاتو جغرافیه.

**اقتصادي ځواک:** طبیعي منابع د یوه هېواد اقتصادي ملي ځواک جوړوي، خو د یادونی وړ ده، هغه منابع او طبیعي سرچینې او ثروت، چې تر ځمکې لاندې او ګټې اخیستنې ته نه وي وړاندې شوی، په خپل ذات کې، یو اقتصادي ځواک نه ګڼل کېږي.

که چېرې خلک د خپلو طبیعي سرچینو په اړه معلومات ولري، کولی شي، په راایستلو او ګټه اخیستلو یې لاس پورې کړي. لنډه دا چې هغه عمده لاملونه چې کولی شي، یو هېواد ملي او اقتصادي ځواک ته ورسوي، په لاندې توګه دي:

۱- ماهر او نوښتګر انساني ځواک.
۲- تولیدي ظرفیت
۳- صنایع
۴- کرنه
۵- ارتباطي او مواصلاتي لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لومړي څپرکي پوښتنې:

۱. د اقتصادي جغرافيې مبادي تعريف کړئ؟
۲. اقتصادي جغرافيه له کومو مهمو څانګو څخه جوړه شوې، نومونه يې واخلئ؟
۳. اقتصادي جغرافيه تعريف کړئ؟
۴. يو هېواد څه وخت کولی شي، خپل اقتصادي او ملي ځواک ته ورسيږي؟
۵. د يوه هېواد په اقتصادي وده کې انساني نوښتګر ځواک، څه رول لري؟
۶. توليدي ظرفيت د يوه هېواد په وده او پرمختګ کې څه رول لري؟
۷. د يو هېواد د صنايعو، کرنې او اقتصادي ودې په اړه خپل معلومات وړاندې کړئ؟
۸. آيا مواصلاتي او ارتباطي لارې د يو هېواد په صنعتي کيدو کې کوم اغيز لري او کنه، خپل توضيحات وړاندې کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دويم څپرکی

## په افغانستان کې کرنه

**ټوليزه موخه:**

د افغانستان په اقتصاد کې د کرنې ونډه

**د زده کړې موخې**: زده کوونکي د دغه څپرکي په پاي ته رسولو سره، کولی شي چې:

- د افغانستان په پرمختيا کې د کرنې ارزښت توضيح کړي.
- هغه عمده نباتات، چې د خلکو د تغذيې په تړاو اهميت لري، تشريح کړي.
- هغه نباتات او نورې کرنيزې منابع، چې په صادراتو کې ترې ګټه اخيستل کېږي، توضيح کړي.

### په افغانستان کې کرنه

افغانستان يو کرنيز هېواد دی، که چېرې د افغانستان تېر او اوسني اقتصادي وضعيت ته کتنه وشي، لېدل کېږي چې همدغه سکتور زموږ د هېواد د اقتصاد بنسټ جوړوي. لکه څرنګه چې ښکاره ده، زموږ د هېواد زياتر عايدات د کرنې له لارې ترلاسه کېږي. د افغانستان ۸۵ سلنه وګړي پر کرنيزو چارو باندې بوخت دي. همدارنګه د افغانستان د ټولو کروندګرو له جملې څخه، ۸۳ سلنه يې د غلو دانو، حبوباتو او ميوو د بېلابېلو ډولونو پر کرلو بوخت دي. ۱۰ سلنه نور کوچيان دي، چې د څارويو د روزنې دنده پرمخ بيايي او پاتې ۷ سلنه نور، پر نورو کرنيزو چارو باندې لګيا دي. بزګران د خوراکي توکو د توليد ترڅنګ، د هېواد د صنايعو په ځانګړې توګه د نخي او وړيو نساجۍ، نباتي غوړي، شکرې، څرمن، وړۍ، د قره قل پوستکو او داسې نورو برخو کې د اړتيا وړ اومه صنعتي توکي برابروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تردې اخوا یو شمېر کسان د کرنیزو توکو پر سوداګرۍ او ترانسپورټ باندې هم بوخت دي. له دې امله ویلی شو، چې پخوا او اوسمهال، د هېواد اقتصاد د کرنې له بډایو منابعو سره تړاو لري او اتکل کېږي، د هېواد ډېرى وګړي به د خپل ژوندانه چارې د زیاتو کلونو لپاره د کرنیزو تولیداتو په مرسته سمبال کړي. دې ته په پام سره، چې د هېواد د اقتصادي فعالیتونو په پرمخ بیولو کې، د کرنې برخه ډېره کره او بنسټیزه ده، خو کرنه په افغانستان کې تر اوسه پورې په لومړنیو بڼو ترسره کیږی. یوازې په ځېنو محدودو سیمو کې له نویو کرنیزو وسایلو او تخنیک، اصلاح شویو تخمونو او کیمیاوي سرې څخه ګټه اخیستل کېږي.
په داسې حال کې، چې د افغانستان په لر او بر کې د اوبو د کمښت له امله هر کال نژدې ۷۰ سلنه کرنیزې ځمکې بې کرکېلې پاتې کېږي. په ټولیزه توګه باید ووایو، چې د افغانستان ۷،۹ میلیونه هکتاره ځمکه، چې د هېواد ۱۲ سلنه خاوره جوړوي، تر کرنې لاندې ده. له دې جملې څخه ۵,۳ میلیونه هکتاره یې د اوبو لګولو اسانتیاوې لري، خو د کال په بهیر کې یوازې ۲،۶ میلیون هکتاره یې د اوبو له نعمت څخه برخمنه کېږي. له هغه ځایه، چې د هېواد په زیاترو سیمو کې د اوبو لګولو سیستمونه په غیرفني او غیر علمي توګه چمتو شوي، نو له دې امله د هېواد په زیاترو سیمو کې د اوبو کمښت محسوسیږي.

بزګران د خپلو کرل شویو توکو د خړوبولو لپاره د سیندونو، کاریزونو او څاه ګانو له اوبو څخه کار اخلي، چې په هېڅ ډول د اوبو یاده اندازه، د هېواد د کرنې لپاره کافي نه ده. باید ووایو په ټولو سیمو او ټولو برخو کې لا تر دې زیات د اوبو شتون ته اړتیا ده؛ په ځانګړې توګه هغه مهال، چې نبات د ودې او حاصل ورکولو په حال کې وي.

په افغانستان کې د ورښت کچه هم ټیټه ده؛ په ځېنو سیمو کې خو تر ډېره بریده کفایت نه کوي سر بېره پردې د وګړو ډېرښت  او د خلکو د ژوند د کچې لوړېدل، دا اړتیا رامنځ ته کوي، څو د کرنې په وضعیت کې کوټلي تغییرات او بدلونونه رامنځ ته شي او د کرنیزو توکو په کیفیت او کمیت کې هم د پام وړ ښه والی رامنځته شي، څو دغه لړۍ وکولی شي، زموږ د خلکو د ژوندانه موجودو او راتلونکو اړتیاوو ته په ښه توګه ځواب ووایي. په دی توګه، د افغانستان دولت له ډېرې مودې راهیسې دغه حالت ته خپل پام اړولی، څو د کرنیزو او اوبو لګولو د پروژو په جوړولو، د کیمیاوي سرې په کارولو او د کرنې په برخه کې له نویو تخنیکي وسایلو او ماشینونو څخه په ګټې اخیستنې سره وکولی شي، د هېواد د کرنې په ډګر کې د پام وړ بدلونونه او پرمختګونه رامنځ ته کړي او په دې توګه د هېواد د کرنیزو توکو د تولیداتو په کچه کې هم د پام وړ زیاتوالی راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**عمده کرنیز نباتات**

عمده کرنیز نباتات له غنمو او وریجو څخه عبارت دي. په افغانستان کې غنم له مهمو کرنیزو توکو څخه شمېرل کېږي. غنم تر ټولو پخوانی نباتي توکی دی، چې بشر له ډېرو پخوا زمانو ورسره بلدتیا لري. په ټولیزه توګه، د دغه نبات د ودې لپاره، د ځمکې د کرې منځني عرض البلدونه زیات مساعد دي. لکه څرنګه، چې افغانستان هم له جغرافیایي پلوه، په همدغه منځني عرض البلد کې موقعیت لري، نو په دې هیواد کې د غنمو کرل له ډېرو پخوا زمانو راهیسې رواج لري او د افغانستان د خلکو بنسټیز خواړه جوړوي. غنم د افغانستان په بېلابېلو ارتفاعاتو کې وده کوي. په دې توګه، له ۳۰۰ تر ۳۵۰ متره لوړوالي پورې کرل کیږي او تولید یې امکان لري. همدارنګه د افغانستان کرنیزې ځمکې له ۵۰ تر ۶۰ سلنې پورې د غنمو د کرکیلې او استحصال لپاره ځانګړې شوي دي. که د غنمو اراضي د نورو غلو له اراضي سره پرتله کړو، د غنمو کرل به ۶۵ سلنه ځمکه په خپله غېږه کې راونغاړي. لکه څرنګه، چې تر بېلابېلو شرایطو لاندې د افغانستان په زیاترو سیمو کې د غنمو کرل شوني دي، نو له دې امله د افغانستان په مختلفو سیمو کې د غنمو بېلابېل ډولونه، چې تراوسه پورې یې سل ډوله تشخیص او چمتو شوي، وده کوي. له همدې امله ده، چې افغانستان د نړۍ د نورو هېوادونو په منځ کې، د غنمو د ډولونو د لرلو له پلوه، د پام وړ ځای لري. په افغانستان کې د غنمو د کرلو په موخه، د کرنې له دوو ډولونو څخه کار اخیستل کېږي، یو پسرلني غنم او بل د مني غنم، چې د نرمو غنمو اوکلکو غنمو په نامه هم يادېږي.

دکلکوغنمو ډولونه ټول د پسرلني غنمو له ډول څخه دي او حاصلات یې د نورو په نسبت لږ دي؛ د دې پرخلاف، دمني غنم نرم خاصیت لري او حاصل یې هم د نورو په نسبت زیات وي. د غنمو دغه دواړه ډولونه د افغانستان په ټولو سیمو کې وده کوي. په ټولیزه توګه، د پسرلني غنمو ډولونه اوبي دي او د خزاني للمي وي.

د افغانستان د سویل ختیځو سیمو طبیعي شرایط، د کلکو پسرلنیو غنمو د ودې لپاره، ډېر برابر دي او د مني غنم د هېواد په شمال لویدیځو او سویل لویدیځو سیمو کې زیات کرل کېږي. په دې توګه، د هېواد یو شمېر ولایتونه، لکه کندز، تخار، سمنګان، بلخ، جوزجان، فاریاب، بادغیس، هرات، فراه، نیمروز، هلمند، ارزګان او کندز د خزاني غنمو لپاره کرنیزه اراضي ده، خو په کابل، لوګر، میدان وردګ، پروان او کاپیسا ولایتونو کې دکلکوغنمو ډولونه ښه ډېر حاصل ورکوي.

کندز، تخار او سمنګان ولایتونه د غنمو د کرکیلې له پلوه د افغانستان له ترټولو حاصل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکوونکو سیمو څخه بلل کېږي. زیاتر تولید شوي غنم یعنې له تولید شویو غنمو څخه دوو پر دریو برخه یې په تولیدي مرکزونو کې مصرفېږي او یو پر درې پاته برخه یې هر کال په داخلي بازارونو کې خرڅلاو ته وړاندې کېږي.

**وریجې:** وریجې، چې د هېواد له مهمو غلو څخه ګڼل کېږي، تر غنمو وروسته زیات مصرف لري. وریجه په هغو سیمو کې کرل کېږي، چې کافي تود اقلیم ولري. وریجې هم د سیمو د اقلیم په پام کې نیولو سره، بېلابېل ډولونه لري، خو دوه عمده ډولونه یې، لکه مهینه او غټه وریجه، چې د جنسیت، خوند او د کرکیلې د سیمې له پلوه، له یو بل سره توپیر لري، په افغانستان کې زیات شهرت لري او د هېواد په ټولو سیمو کې خلک ورسره اشنا دي.

د ختیځ درې ولایتونه لکه لغمان، کونړ او ننګرهار د وریجو د کرکیلې او په زیاته پیمانه یې د تولیدولو له پلوه د زیات اهمیت وړ دي. خو په شمال کې د کندز، تخار او بغلان ولایتونه د مهینو وریجو د درلودلو له پلوه زیات شهرت لري. باید ووایو، چې د دغو شپږو ولایتونو تولیدات، د هېواد په ټولو سیمو کې په مصرف رسېږي؛ همدارنګه له پاکستان څخه هم یوه اندازه د مهینې وریجې هېواد ته راواردېږي. افغانستان د وریجو د تولیداتو له پلوه پر ځان بسیا نه دی، که څه هم په دې وروستیو کې په هرات، میدان وردګ، لوګر او پکتیا ولایتونو کې هم د وریجو کرکیلې رواج موندلی، خو د پورتنیو یادو سیمو په پرتله اهمیت نه لري.

غټې وریجې په میدان وردګ، لوګر، بغلان او تخار ولایتونو کې هم تولیدېږي. د وردګو ولایت غټه وریجه د خوند او ډول له پلوه لومړۍ درجه مقام خپل کړی، خو د مهینو وریجو په پرتله د غټو وریجو مصرف ډېر لږ دی.

په ټولیزه توګه، په افغانستان کې د وریجو کرل، د غوایي په میاشت کې پیل او د غبرګولي میاشتې تر نیمایي پورې دوام کوي. د وریجو د محصولاتو اندازه او کیفیت تر ډېره بریده د سیمې له اقلیم او د خاورې له څرنګوالي سره تړاو لري.

د وریجو حاصل اخیستنه هم، په بېلابېلو سیمو کې مختلفه ده، خو د وریجو تولیدات د وږي له میاشتې تر تلې پورې دوام کوي.

د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې د وریجو کرکیلې او تولیدات په پخوانۍ او ابتدایي بڼې تر سره کیږي. له پخوا راهیسې د وریجو د کرکیلې او تولیداتو په برخه کې د پام وړ پرمختیا نه ده رامنځته شوې. خو په دې وروستیو کې، چې د نړیوالې ټولنې پام افغانستان ته اوښتی او په دې توګه کرنې ته د دولت پاملرنه هم زیاته شوې، نو د کرنې په برخه کې د پام وړ بدلونونه او تغییرات تر سترګو کېږي؛ دولت د امکان تر حده هڅه کوي، چې د هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library

بزګران په پرمختللي ټکنالوژۍ باندې سمبال کړي، څو وکولی شي، ورو - ورو د هېواد د کرنې سیستم، په پرمختللو سیستمونو باندې سمبال او په دې توګه ښه تولیدات لاس ته راوړي.

**جوار:** جوار د افغانستان د یو شمېر خلکو عمده خواړه جوړوي، جوار په تودو او مرطوبو سیمو کې کرل کېږي. د افغانستان ځینې ولایتونه لکه پکتیا، پکتیکا، لوګر، ننګرهار او نورې سیمې، چې ورته اقلیم لري، د جوارو د ودې لپاره ډېرې مساعدې سیمې دي او په ټولیزه توګه په ژمي کې د یادو سیمو د خلکو خواړه جوار جوړوي. د دې ترڅنګ یوه اندازه جوار د څارویو، په ځانګړې توګه د مرغانو د خوړو په توګه هم کارول کېږي. په افغانستان کی د جوارو کرکیله په اوبیزه بڼه ترسره کیږي او ټول تولیدات یې د کورنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره په مصرف رسېږي؛ یعنې په افغانستان کې تر دې مهاله، د جوارو صادرات او واردات ښه وده نه ده موندلې.

**میوه:** د افغانستان اقلیمي شرایط او د طبیعي چاپېریال اغېزې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د روزل شویو او خپلسرو وحشي میوو د ونو بېلابېلو ډولونو د ودې لپاره مساعد دي او د میوه لرونکو ونو حاصلات ښه او د قناعت وړ دي او یوه زیاته پیمانه یې د هېواد د مهمو صادریدونکو توکو په توګه، بهر ته صادرېږي.

**خپلسري وحشي میوې:** دغه میوې له جلغوزو او پېستو څخه عبارت دي، یو داچې دغه میوې د هېواد په ختیځو او سویلي سیمو کې او دویم په شمال لویدیځه سیمه کې د ځنګلونو په بڼه د یوې ټاکلې ارتفاع په اندازه په ښه توګه وده کوي. د میوو نورې ونې، چې د کروندګرو په وسیله تر روزنې لاندې نیول کېږي، عبارت دي له: انګورو، انارو، ناکو، مڼو، زردالو، شفتالو، قیصي، الوبالو، الوبخارا، چهارمغز(غوزانو)، بادامو، انځرو او همدارنګه خربوزه، هندوانه او د مدیترانه یي سیمې د میوو ونې لکه: لیمو، مالته، کېنو، سنتره، خرما او داسې نور.

د میوو هغه ونې، چې په پاس ترې یادونه وشوه، نژدې د افغانستان په ټولو سیمو کې وده کوي. د هېواد هره سیمه د دغو میوو د یوه یا دوو ډولونو په تولید کې د پام وړ شهرت لري؛ د بیلګې په توګه کندهار ولایت د انګورو او انارو د ډولونو په برخه کې؛ هرات ولایت د انګورو د ډولونو د لرلو له پلوه، تاشقرغان د انځرو، انارو او ناکو د تولید په برخه کې؛ ننګرهار ولایت د لیمو، مالتې او سنترې په تولید کې زیات شهرت لري.

میوه په افغانستان کی په دوو بڼو ( وچه او لنده) په خپله د کرکیلې په سیمو، په ښارونو او هم په بهر کې د سوداګرۍ په موخه تبادله کېږي. د یادونې وړ ده، چې د میوو صادرات

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان پر اقتصاد باندې زياتې اغېز لري او د هېواد په بهرنۍ سوداګرۍ کې هم مهم صادراتي توکي ګڼل کېږي؛ لکه څرنګه، چې د ۱۳۶۴ کال د شمېرنو له مخې، د ميوو صادرات د هېواد د ټولو صادراتي توکو، ۴ سلنه بيه جوړوي. په اوسنيو شرايطو کې هم، د افغانستان وچې او لندې ميوې بهر ته په ځانګړې توګه ګاونډيو هېوادونو ته په پراخه پيمانه صادرېږي او په هغو سوداګريزو نندارتونونو کې، چې د سيمې د ځينو هېوادونو له خوا جوړ شوي وو، د افغانستان وچې او لندې ميوې، د اخيستلو او پيريدلو لپاره زيات مينه وال موندلي دي؛ ځکه د نړۍ او د سيمې هېوادونو په کچه د افغانستان ميوې له لوړ کيفيت څخه برخمنې او په ټوله نړۍ کې بې سارې شهرت او د نړۍ په ټولو بازارونو کې پېرودونکي لري، خو د واټن د ليرې والي او د ترانسپورټي وسايلو او عصري او پرمختللو يخچالونو د نشتوالي له امله، اروپايي هېوادونو ته د افغانستان د تازه ميوو صادرات په کمه کچه ترسره کېږي. خو له بلې خوا، د هېواد وچه ميوه، لکه بادام، پيسته او په ځانګړي توګه د پکينګ له نوي سيستم سره مميز، په ډېرو اروپايي او امريکايي هېوادونو کې ښه بازار او د پام وړ پيرودونکي لري.

**کتان:** کتان يو کلن واښه دی، چې نسبتاً عمودي او اوږدې رېښې لري، چې کله کله ۱۰۰ سانتي متره ته هم رسېږي. په وچو سيمو کې يې رېښې په ځمکه کې نور هم ژورې ځي. د کتان پاڼې شين وزمه خړ رنګ لري، چې په خپلو او ږدو کې په متناوبه توګه په لويدلي حالت کې قرار لري. هره پاڼه يې درې ځوکې لري او پر موضعي ماده باندې پوښل شوې دی. د دغه واښه پاڼې له ۲۵ تر ۳۵ ملي متره پورې اوږدوالی لري او سور يې له ۲ تر ۱۵ ملي متره پورې تغيير مومي. د کتان د واښه ګلان په بېلابېلو ډولونو او رنګونو لکه سپين، زيړ، آبي او بنفش وي او هر ګل يې، ۵ کاسپاڼې او ۵ ګلپاڼې لري، تخمدان يې ۵ حضرې لري، چې په هره حضره کې يې دوه تخمکونه شته.

کتان په ټوليزه توګه په دوو ډولونو باندې وېشل کېږي:

۱- تاري کتان، چې د اليافو(تارو) د برابرولو په موخه کرل کېږي.

۲- غوړ کتان، چې په دانو کې يې د موجودو غوړيو د برابرولو په موخه کرل کېږي.

د کتانونو د کرکيلې مخينه له ۱۰ تر ۱۵ زره کلونو پورې رسېږي او په مديترانه، قفقاز او لېرې ختيځ کې يې کرل متداول او له ساقې (ډډ) څخه به يې ګټه اخيستل کېدله.

کتان د لومړي ځل لپاره، د مديترانې په سيمه کې وکرل شو، چې ځو کلنه او دLinums angustifolium په نامه ياد شو. اوسمهال، کرنيز کتان د usitatissinum – li په نامه يادېږي، چې اسيايي سرچينه لري او د کتانو د پورتني ډول ځای يې نيولی او په يوه کال او ځو کلونو کې وده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتان د تودو او معتدلو سیمو ځانګړی واښه دی، چې د بېلابېلو ډولونو د لرلو له امله، د ودې د دورې په موده کې له کافي رطوبت سره جوخت، تودې او معتدلې هوا ته اړتیا لري. یخه او سړه هوا د دغه واښه د ودې او نمو پرمخ ځنډ او خنډ ګرځي، د دې ترڅنګ یې په محصول کې د کیفیت د ټیټوالي او د کمیت د لږوالي لامل هم ګرځي.

نن ورځ د کتانو نباتات د اسیا او اروپا په پراخو سیمو کې کرل کېږي، له دغه نبات څخه د بېلابېلو صنعتي موخو په ځانګړي توګه، د دوبی جامو جوړولو لپاره،ترې ګټه اخیستل کېږي. کتان هغه نبات دی، چې له ډېرو پخوا زمانو پېژندل شوی او کارول شوی دی؛ ان په مصر کې له میلاده پنځه پېړۍ وړاندې روزنه یې معمول وه . له کتان څخه د ګټې اخیستنې کړنلاره په دې بڼه ده، چې کله د کتان له ونې څخه د کتان دانه جلا کړي، ونه یې د څو ورځو لپاره په اوبو کې ږدي، څو هغه موم ډوله تروې ماده ترې جلا شي، ورپسې په ځانګړو ماشینونو کې یې وچوي او بیا ترې جلا شوي تارونه ږمنځوي، په دې توګه کتان صفا او روڼ راوځي وروسته سپین او سور رنګ غوره کوي. د هغه له پاتې شونو څخه، چې تر تصفیې وروسته پاتې کېږي، د کاغذ په صنعت کې کار اخلي.

د دغه نبات د تولید لپاره زیاتو کارګرانو ته اړتیا ده،کتان په روسیه او د نړۍ په ځینو نورو هېوادونو لکه بلجیم، فرانسه، ایران، هالنډ او جرمني کې زیات کرل او تولیدېږي. د نړۍ د کتانونو له محصولاتو څخه یوازې ۷۵ سلنه یې په روسیه او پاتې نور یې په نورو اروپایي هېوادونو کې تولیدېږي.

**سنډ:** سنډ یوه بوټی دی، چې ډډ یې پر اغزیو پوښل شوی دی، د شنه کېدو اصلي ځای یې د افریقا بېلابېلې سیمې دي، د دغه نبات لوړوالی له یوه تر څلورو مترو پورې رسیږي، د ډډ منځنی لوړوالی یې ۲،۴ او ۳،۶ مترو ته رسیږي.

سنډ هغه نبات دی، چې په تودو او نیمه تودو سیمو کې کرل کېږي او د سړې هوا پر وړاندې حساس وي. د دوبي په فصل کې کولی شي له ۳۵ تر ۴۰ درجوسانتي ګراد پورې حرارت هم تحمل کړي او خپلې ودې ته دوام ورکړي، له بلې خوا دا نبات د ورځې لږ ترلږه ۵ ساعته رڼا ته اړتیا لري.

سنډ د الیافو(تارو) نساجۍ په صنایعو کې ډېر ارزانه تمامیږي، چې د مقدار له اړخه تر مالوچو وروسته دویم ځای لري. په صنعت کې له سونډ څخه د صنعتي او کرنیزو توکو د لیږدولو لپاره د بوجۍ او خلتې په توګه کار اخیستل کېږي او له پاتې شونو څخه یې د کاغذ، رسۍ او نورو شیانو د جوړولو په موخه استفاده کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه د ترلاسه کولو طریقه هم د کتان په څېر ده او له ۱۵ تر ۲۰ ورځو پورې په اوبو کې ابښودل کېږي؛ بدلون یې د اوبو د حرارت له درجې سره تړاو لري. د توپیر عمل د شرایطو د نه برابروالي په وخت کې، کیدای شي تر دوو میاشتو پورې دوام ومومي؛ تار د بدلون او بېلولو وروسته، پریمنځل کېږي او پاکیږي او تر دې وروسته یې ځوړندوي، تر هغه مهاله، چې وچ او سپین رنګه الیاف(تار) لاس ته راشي. هغه سیمې چې پکې د سنډو تولیدات بنه اخلي، په ټولیزه توګه ایران، هندوستان او بنګله دیش هېوادونه دي. باید یادونه وکړو، چې تولیدات یې په هندوستان کې په صنعتي او په بنګله دیش کې په اومه بڼه وي، چې د امریکا متحده ایالاتو، استرالیا او نوی زیلانډ هېوادونو ته صادریږي.

**صنعتي نباتات:** افغانستان د صنعتي نباتاتو بېلابېل ډولونه لري، چې موږ کولی شو، له هغو څخه یې چې اقتصادي ارزښت لري، په لاندې توګه یادونه وکړو:

**مالوچ:** مالوچ د افغانستان یو پخوانی نبات دی، چې له ډېرو پخوا زمانو راهیسې زموږ کروندګر یې کري او د جامو او البسو د برابرولو په موخه ترې کار اخیستل کېږي. په هند او شاوخوا سیمو کې  د دغه نبات د کرکیلې او کارونې مخینه د موثقو اسنادو له مخې له مېلاده مخکې تر ۳۰۰۰ کلونو رسېږي، چې تر مېلاد ۴ زره کاله مخکې د باختر په سیمه کې یې کرل هم دود وو. مالوچ په هغو سیمو کې کرل کېږي، چې نسبتاً توده هوا او زیاتې اوبه ولري. په دې توګه د افغانستان په زیاتره شمال لویدیځو او ختیځو ولایتونو کې یې کرل شوني دي، خو د هېواد په شمالي سیمو په ځانګړې توګه په کندز، بغلان، تخار او بلخ ولایتونو کې په زیاته پیمانه کرل کېږي او پراخه سیمه په غېږکې را نغاړي. مالوچ په پروان او ننګرهار ولایتونو کې لږ یعنې په هغومره اندازه کرل کېږي، چې د همهغو سیمو اړتیاوې پوره کوي. مالوچ په افغانستان کې له ۱۳۱۰ کال څخه مخکې په ډېره لږه پیمانه کرل کیده؛ ځکه هغه مهال د هېواد د اړتیا وړ مالوچ، چې په ټولیزه توګه یې صنعت په لاسي بڼه تر سره کېده، ډېر لږ او محدود و، خو کله چې، د هېواد په دننه کې د نساجیو کارخانې جوړې او پراختیا یې و موندله. د مالوچو کر ته هم د حکومت پاملرنه زیاته شوه او په دې توګه کروندګر دې ته وهڅول شول، چې د مالوچو په کر کې زیاته هڅه او پاملرنه وکړي. تردې وروسته د هېواد د مالوچو تولیدات نه یوازې د هېواد د اړتیا وړ مالوچ پوره کول، بلکې بهر ته هم صادرېدل.

**چغندر:** چغندر هم د افغانستان له پخوانیو نباتاتو څخه ګڼل کېږي، دغه نبات نسبتاً توده هوا او کافي اوبو ته اړتیا لري. تر دې وړاندې، چې په بغلان ولایت کې د ګوړې فابریکه جوړه شي، چغندر د هېواد په لر او بر کې په کمه پیمانه کرل کېدل او د مستقیمو خوړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په توګه مصرفېدل، خو کله چې د بغلان ولايت د ګوړو کارخانې په کار پيل وکړ، په کندز او بغلان ولايتونو کې، چبرې چې د دغه نبات د توليد لپاره ښه مساعده هوا شته، د قندي چغندرو کرکيلې، په پراخه کچه پراختيا موندله.

**حبوبات:** کرنيز حبوبات، چې زغر، شلشم، کونځل، لمر ګلی او پنبه دانه پکې شامليږي، د هېواد په زياترو سيمو کې راشنه کېږي. که څه هم د حبوباتو د کر ساحه ډېره لږه ده، خو توليد يې د هېواد کورنيو اړتياوو ته په ښه توګه ځواب وايي. زموږ په هېواد کې د کرنيزو يا تيل لرونکو حبوباتو ساحه، نژدې ۴۰۰۰ هکتار مترو ته رسيږي، د دغه نباتاتو غوړي يا تيل په هېواد کې د جوړو شويو دستګاوو په وسيله، چې ابتدايي بڼه لري، ترلاسه کېږي. د يادو نباتاتو له پاتوشونو څخه د څارويو د خوړو په توګه ګټه اخيستل کېږي. تيل لرونکي حبوبات زياتره د هېواد په شمالي سيمو کې کرل کېږي او خلک د حيواني غوړيو پر ځای ترې ګټه اخلي. د دستګاوو په وسيله د زغرو، شلشمو او کونځلو د تيلو توليد، د توليد پرمهال ۶۰ سلنه ضايعات لري. په اوسني عصر کې په هېواد کې د حبوباتو د توليداتو کچه يو ميليون متر مکعب سنجول شوې ده.

۱- **په افغانستان کې طبيعي ځنګلونه:** د طبيعي ځنګلونو په پراختيا کې، چې د يو هېواد له ملي پانګو څخه شمېرل کېږي، په دې برخه کې چې هر څومره هڅه وشي، په هغومره اندازه ملي پانګه بډايه کېږي. همدارنګه د خلکو د ژوندانه د ارتقا په موخه له ځنګلونو څخه په فني توګه ګټه اخيستنه، زيات اهميت لري. په دې توګه، د افغانستان ځنګلونه، چې په ټوليزه توګه ۱،۸ ميليونه هکتاره متره ساحه په غېږ کې نيسي، د هېواد له زياتو ارزښت لرونکو ملي پانګو څخه ګڼل کېږي. ځنګلونه په لومړي ګام، د بهرنيو اسعارو د لاسته راوړلو، د صنايعو پراختيا او د بې روزګاره خلکو لپاره د کار زمينې د برابرولو له پلوه نه يوازې د هېواد د اقتصادي بنسټونو په غوړېدا کې له زيات ارزښت څخه برخمن دي، بلکې په دويم ګام کې، د هېواد پر اقليمي وضعيت او سمسورتيا باندې هم د ښو اغېزو د لرلو ترڅنګ، د باد او باران په وسيله د خاورو له تخريب څخه د مخنيوي او د څارويو لپاره د وښو د برابرولو له امله هم د پام وړ اهميت لري. د افغانستان د ځنګلونو لرګي په ټوليزه توګه ۳۰ ميليونه متره مکعبه سنجول شوي او د توليداتو په برخه کې يې بايد ووايو، ، چې دغه لرۍ په غير فني توګه د لومړنيو وسايلو په وسيله ترسره کيږي، نو له دې امله د توليد پر مهال ۶۰ سلنه ضايعات لري. په افغانستان کې د لرګيو کلني توليدات يو ميليون متره مکعبو ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲- په افغانستان کې صنعتي ځنګلونه:** دغه ځنګلونه په ټولیزه توګه د ستن پاڼو له ونو څخه تشکیل شوي، چې لمتر، نښتر، سرب، چلغوزي، ارچه او داسې نورې ونې دي. په دغو ځنګلونو کې د ستن پاڼو پر ونو سربېره پلن پاڼې ونې لکه بلوت، زیتون او داسې نورې هم شتون لري. دغه ځنګلونه زیاتره د هېواد په سویلي او ختیځو سیمو کې په ټولیزه توګه د زیات رطوبت له امله راشنه کېږي، چې د یو میلیون هکټار متر، معادل سیمه یې تر خپل پوښښ لاندې راوستې ده.

همدارنګه په افغانستان کې د زیتونو میلیونونه خپلسري وحشي ونې شتون لري، چې په پکتیا، لغمان، ننګرهار، کونړ او نورستان ولایتونو کې یې نژدې د ۲۰۰ زرو هکټار مترو په شاوخوا کې پراخه سیمه په غېږکې نیولې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دویم څپرکي لنډیز:**

**په افغانستان کې کرنه:** افغانستان یو کرنیز هېواد دی، که چیرې د افغانستان اوسني او تېر اقتصادي وضعیت ته کتنه وشي، لیدل کېږي، چې زموږ د هېواد اقتصادي بنسټونه د کرنې پر سکټور ولاړ دي؛ لکه څرنګه چې څرګنده ده، کرنه د هېواد د عایداتو یوه عمده برخه جوړوي او زموږ د هېواد ۸۵ سلنه وګړي، پر کرنه او کرنیزو چارو بوخت دي.

د یادونې وړ ده، چې افغانستان عمده کرنیز نباتات لکه غنم، وریجې او جوار لري. همدارنګه میوه لرونکې ونې لکه انګور، انار، مڼه، ناک، بهي، زردالو، قیسي، شفتالو، ګیلاس، الوبالو، چهارمغز(غوزان)، بادام، انځر هم د کروندګرو له خوا روزل کېږي. له دې نه اخوا، خربوزه، هندوانې او نور مدیترانه یي میوې لکه لیمو، کېنو، سنتره او داسې نور هم ښه حاصلات لري. او د هېواد د سوداګرۍ صنعت په پرمختیا کې د پام وړ ارزښت لري.

بل خوا افغانستان زیات صنعتي نباتات او ځنګلونه هم لري، چې صنعتي نباتات یې له مالوچو او همدارنګه غوړ لرونکي حبوبات یې له زغرو، شرشمو، کونځلو، لمرګلو او داسې نورو څخه عبارت دي. طبیعي ځنګلونه، چې د هېواد ملي شتمنۍ جوړوي، په افغانستان کې هم شتون لري او زموږ د هېواد په اقتصادي وده او پرمختیا کې ارزښتناکه ونډه لري. په افغانستان کې ځنګلونه ۱،۸ میلیونه هکتاره ځمکه ساحه په غېږ کې نیسي، چې زموږ د هېواد له باارزښتو ملي پانګو څخه ګڼل کېږي. همدارنګه د یادونې وړ ده، چې په افغانستان کې صنعتي ځنګلونه هم په کافي اندازه شتون لري، چې په خپلسري وحشي توګه په پکتیا، ننګرهار، لغمان، کونړ او نورستان ولایتونو کې شنه کېږي، د هغوی تولیدات هم د زیات ارزښت وړ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دويم څپرکي پوښتنې:

۱. د هېواد د اقتصاد په وده کې د کرنې ونډه توضیح کړئ؟
۲. عمده کرنيز نباتات کوم دي، نومونه يې واخلئ؟
۳. د افغانستان د ميوه لرونکو ونو نومونه واخلئ؟
۴. د هېواد د اقتصاد په وده او پرمختيا کې د سوداګرۍ ونډه تشريح کړئ؟
۵. صنعتي نباتات کوم دي او په کومو وختونو کې ترې ګټه اخيستل کېږي، جوته يې کړئ؟
۶. په افغانستان کې ځنګلونه په کومه بڼه شتون لري، تشريح يې کړئ؟
۷. د افغانستان د صنعتي ځنګلونو نومونه واخلئ؟
۸. خپلسري او وحشي ځنګلونه د افغانستان په کومو سيمو کې شتون لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درېیم څپرکی

## د افغانستان کانونه

**ټولیزه موخه:**

د افغانستان د کانونو په اړه عمومي معلومات

**د زده کړې موخې:** ددغه څپرکي په پای کې له زدوه کوونکو نه تمه کیږي چې:

- په هیواد کې د اقتصاد پر ارزښت وپوهیږي.
- د هیواد د شمال نفتي او ګازي سیمې وپیژني.
- د هیواد د وسپنې، مس، او د ډبرو سکرو کانونه وپیژني.

### د افغانستان کانونه

له هغه ځایه، چې د کانونو او کاني منابعو د زېرمو لرل، د یوې سیمې او یوه هېواد د صنعتي کېدو لپاره یو اړین امر ګڼل کېږي او له بلې خوا د یو هېواد د پرمختګ او ودې او همدارنګه د خلکو د ژوندانه د کچې په لوړتیا کې هم د پام وړ ارزښت لري، باید ووایو چې د یو هېواد د خلکو د اقتصادي ژوند، پرمختګ او لوړوالی د کاني زېرمو په لرلو او له هغو څخه د ګټې اخیستنې پر څرنګوالي پورې تړلی دی. زموږ د هېواد په اړه اسناد او شواهد ښيي، چې تراوسه نه دې وړاندې شوی، خو په ابتدایي او سیمه ییزه بڼه او په لږه پیمانه د کانونو له بېلابېلو ډولونو لکه له سره زرو، سپینو زرو، مسو، وسپنې او قیمتي ډبرو څخه ګټه اخیستنه دوام لري.

جیولوژیکي څېړنې څرګندوي، چې د کاني موادو د ډولونو ۴ سلنه د افغانستان په ۸۹ سیمو کې شتون لري او د ګټې اخیستنې وړ دي، خو تر دې مهاله له دغو کانونو څخه ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ده اخیستل شوې. دغه کانونه، چې زیاتره یې له اقتصادي پلوه زیات ارزښت لري، د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې موندل شوي؛ په دې توګه موږ کولی شو، پرېکړه وکړو، چې افغانستان د کانونو د لرلو له اړخه یو بډای هېواد دی، او زموږ د خلکو لپاره یو روښانه راتلونکی انځوروي. د افغانستان تر ټولو مهم کانونه د ډېرو سکاره، طبیعي ګاز، نفت، وسپنه، مس، بیرایت، لاجورد، مالګه، سره زر، سپین زر او داسې نور دی، چې ځینې یې په لاندې توګه واضح کیږی:

**طبیعي ګاز:** د طبیعي ګازو کان د افغانستان له مهمو کانونو څخه ګڼل کېږي. دغه کان د هېواد په دننه کې د لګښت او بهر ته د صادرېدو له پلوه زیات ارزښت لري، د دغه کان زېرمې په افغانستان کې د قناعت وړ دي، چې مهمې زېرمې یې د هېواد په شمال کې د شبرغان ښار په ۴۵ کیلومترۍ کی د خواجه ګوګردک او جرقدوق په سیمه کی تثبیت شوي دي.

په یادو سیمو کې د ګازو زیرمې ۱۲۰ میلیارده متره مکعبه تثبیت شوي، چې له دې جملې څخه د ۴۰ میلیاردو متره مکعبو په شاوخواکی خواړه ګاز او پاتې نور یې سلفرلرونکی ګاز دی. د بیلګې په توګه له خوږ ګاز څخه یې ګټه اخیستل شوي او له ۱۹۶۷ کال څخه وروسته یې صادرات د پخواني شوروي اتحاد ته تر سره شویدي. شوروي اتحاد ته د ګازو د لېږدولو په موخه د ۳۲ انچو په قطر او د ۹۷،۵ کیلومترو په اوږدوالي د همدغه هېواد تر پولو پورې یوه نل لیکه جوړه شوې وه. همدارنګه بله نل لیکه د شبرغان له ښاره د مزارشریف د کوډ برق تر فابریکې پورې د ۲۱ انچو په قطر او د ۵۵ کیلو مترو په اوږدوالي غځول شوې ده، دغه نل لیکه په یو کال کې د ۵۰ میلیونه متر مکعب ګازو د لېږدولو ظرفیت لري.

هغه نفتي او ګازي سیمې چې د افغانستان په شمال کې تثبیت شوي او کېدای شي د ګټې اخیستنې په موخه نړیوالو شرکتونو ته وسپارل شي، په لاندې توګه دي:

۱- **د انګوت سیمه:** دغه سیمه د سرپل ښار په شپږ کیلومترۍ کې په لوړه برخه کې په ۱۰۰۲ متر ارتفاع کې واقع شوې ده. په دې حوزه کې تر اوسه پورې ۱۴ انکشافي څاه ګانې کیندل شوي دي؛ د بیلګې په توګه د ۸.۰ څاه د ۱۰۸۰ مترو په ژوروالي کیندل شوې او د نفتو ساحې ته رسیدلې، چې د استخراج کچه یې په ورځ کې ۷۰ ټنه تثبیت شوې ده،د دې سیمې زېرمه د ۴ میلیونو ټنو په شاوخوا کې اټکل شوې ده.

۲- **د آق دریا سیمه:** دغه سیمه د سرپل ښار د ختیځ په څلور کیلومترۍ او د جوزجان د انګوت میدان په اته کیلومترۍ کې واقع ده. په دې سیمه کې لومړنۍ انکشافي څاه د ۱۹۷۴ کال د می په ۲۱ نیټه کیندل شوې ده. د دې حوزې ټوله زېرمه د ۲ میلیون ټنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شاوخوا کې اټکل کېږي.

۳- **د خواجه برهان ګازي سیمه:** دغه سیمه د شبرغان ښار سویل ختیځ لوري ته په ۳۵ کیلومترۍ کې موقعیت لري. د دغې حوزې ټوله زېرمه د۵-۴ میلیارد متر مکعب په شاوخوا کې اټکل کېږي.

۴- **د یتیم تاق ګازي سیمه:** دغه سیمه د شبرغان تر ټولو لویه ګازي سیمه ده، چې ټولې زیرمې یې د ۲۵.۲۰ میلیارد مترمکعب په شاوخوا کې اټکل کېږي. د دې سیمې د ۴ نمبر څاه د کیندلو پر مهال، د کیندنې د ستندړډونو د نه په پام کې نیولو او په دقیقه توګه د زیرمې د داخلي فشار د نه ټاکلو له امله، د څاه د چاودنې له امله د حفاري ټول تاسیسات ړنګ شول. همدا راز دغه پېښه د ګازو د ازادېدلو او اورلګېدنې لامل شوه، چې نږدې یو کال یې دوام وموند او په پای کې له بېلابېلو کړنلارو څخه په ګټه اخیستنې لکه د موادو تزریق او وسپنیز سرپوښ د ایښودلو په وسیله د څاه اور مړ شو.

۵- **د خواجه ګوګردک ګازي سیمه:** دغه سیمه د شبرغان ښار د ختیځ لوري په ۲۲ کیلومترۍ کې موقعیت لري او ټولې زیرمې یې ۸.۴۶ میلیارد مترو مکعبو ته رسېږي. له دغې حوزې څخه د ګټې اخیستنې چارې د ۱۹۶۷ کال د اکتوبر له یوویشتمې راوروسته پیل شوي دي. په ۱۹۷۳ کې له دغه میدان څخه د ګازو د راایستلو او ګټې اخیستلو په موخه ۲۸ حلقې څاه ګانې وکېندل شوې او تر ۱۹۷۵ کاله پورې ۳۲ حلقو ته پورته شوې؛ د دغې سیمې د تولیدي ګازو یوه برخه د نل لیکې په وسیله شوروي اتحاد ته صادرېده او بله برخه یې د مزارشریف کوډبرق فابریکې ته لېږدول کېده. د خواجه ګوګردک د سیمې د تروو ګازو زیرمې د ۱۸,۴ میلیارد متر مکعبو او خوارږه یې د ۳۸,۳۷ ملیارد متر مکعبو په شاوخوا کې اټکل شوې ده.

۶- **د جرقدوق ګازي سیمه:** دغه سیمه د شبرغان په ګازي حوزه کې واقع ده، چې د ګازو زیرمه یې ۴۱ میلیارد متره مکعب اټکل کېږي. د یادو حوزو ترڅنګ، په دې سیمه کې نورې حوزې هم پېژندل شوي دي، چې کولی شو په دې لړ کې د لیلي دښتې، اقچې، محمدجان خان ډګر، بلخ، غورماچ، علی آباد او لوی ځنګل له حوزو څخه یادونه وکړو.

**وسپنه**

له هغه ځایه، چې د عادي او ساده وسیلو ځای، وسپنیزو وسیلو ونیو، انسانانو د تمدن پر لور ګړندي ګامونه واخیستل او ورسره جوخت له هغه مهاله، چې په اروپا کې صنعتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

انقلاب رامنځ ته شو، نو له فلزاتو څخه کار اخیستنه هم په لویه پیمانه پیل شوه؛ په دې ترځ کې بشر د ځمکې د کرې په مخ د وسپنې لویې زیرمې کشف کړې. باید ووایو، دغه ماده د فلزاتو له ترټولو مهمو او کاري موادو څخه ګڼل کېږي، وسپنه د سختو فلزاتو یو ډول دی، چې زیات کانونه لري. همدارنګه دغه ماده د فولادو په تولید کې چې مرکب یې کاربن، وسپینه او نور دي، هم کاري او لویه ونډه لري. له بلې خوا همدغه ماده، د بشري تمدن ټولې ساحې تر خپلې اغېزې لاندې راوستې دي. اوسمهال موږ وینو چې ټول غټ او واړه ماشینونه، د ترانسپورټي وسیلو په ګډون د بشر ټولې د اړتیا وړ وسیلې له کومو موادو څخه چې چمتو شوي دي، وسپنه یا فولاد په کې یو مهم او با ارزښته عنصر دی. په افغانستان کې د هغو څېړنو او سپړنو له مخې چې په دې وروستیو کې ترسره شوي، دغه هېواد د مرغوبې وسپنې او د وسپنې د ډېرو د لرلو له اړخه یو بډای هېواد ګڼل کېږي. باید ووایو چې یوازې د بابا د غرونو په سلسله کې د وسپنې د اتو سترو کانونو شتون تثبیت شوی دی، چې له دې جملې څخه د بامیان ښارد شمال ختیځ پلو په ۴۵ کیلومترۍ کې د حاجي ګک کان تر ټولو باارزښته او مهم کان ګڼل کېږي، چې ټوله زیرمه یې ۲۱۰ میلیارد ټنه تثبیت شوې ده.

د دغه کان د وسپنې رګونه په ازاده ارتفاع کې قرار لري، چې ګټه اخیستنه ترې په ډېره آسانۍ سره شونې ده. تر ټولو مهمه دا ده، چې د دغه کان د سلنې کچه ۶۱ سلنه تثبیت شوې ده، چې په دې توګه د نړۍ د وسپنو زیاتر کانونه له دغه امتیاز څخه بې برخې دي.

د هغو څېړنو له مخې، چې تراوسه پورې په دې اړه ترسره شوي، د حاجي ګک کان ۳۶ کیلومتره مربع  شاوخوا سیمه په غیږ کې نیسي. د یاد کان اوږدوالی ۱۲ کیلومتره او عرض یې ۳ کیلومترو ته رسېږي، چې د وسپنې بې ساري زیرمې لري.

د حاجي ګک کان چې د بامیان ښار په شمال ختیځ کې د هېواد د ډېرو سکرو په پراخ کمربند کې موقعیت لري، د وسپنې د ویلي کولو د صنایعو لپاره د مصرفي انرژۍ د تامین له پلوه، له ډېرو مساعدو شرایطو څخه برخمن دی. په دې توګه، د برېښنا انرژۍ هم د بهیدونکو اوبو له پوتنشیال څخه لکه د آمو له سیند څخه او هم د د ډېرو دسکرو په لګښت د حرارتي بریښنا د فابریکو د جوړولو له لارې، چې د کان په شاوخوا سیمو کې شتون لري، برابریدلی شي.

د  یادونې وړ ده، چې د ځمکې په  یوه اواره ساحه کې، چې له کان سره په نږدې سیمه کې پرته ده، د وسپنې د ویلي کولو فابریکې د جوړولو موضوع یوه وړاندې شوې طرحه ده. د حاجي ګک د کان یو له ترټولو مهمو امتیازاتو څخه دا دی، چې دغه کان له انجنیرۍ پلوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د داسې شرایطو درلودونکی دی، چې له مخې یې کولی شو، یاد کان لږ ترلږه د ۲۵۰ مترو تر ژوروالي پورې په پرانیستي بڼه استخراج کړو.

د حاجی ګک وسپنه د بډاینې او پراخیدو له پلوه (له دې امله چې دغه کان د زیرمې له پلوه، وده کوونکي ګڼل کېږي) د هېواد د کانونو په سکټور کې له ځانګړي ارزښت څخه برخمن دی،او د هغو فکټورونو په پام کې نیولو سره، چې پورته یې یادونه وشوه، په دې کان کې پانګونه به یو لوی نوښت وي، چې نه یوازې د پانګه اچوونکي لوري ګټه تامین کړي، بلکې د هېواد په اقتصادي پرمختیا او د ملي هوساینې په تامین کې به هم کوټلي او د پام وړ اغېزې ولري.

**د مسو کان**

مس یو ډول سور رنګه فلز دی، چې تر ځمکې لاندې د کاني مادې په توګه پېژندل کېږي، له دې مادې څخه انسانان په صنعت کې له ډېرو پخوا زمانو راهیسې ګټه اخلي.

تر مېلاده مخکې دورو کې به د ګاڼو (زیوراتو) د جوړولو په موخه هم ترې ګټه اخیستل کیده؛ اوسمهال په نړیوالو بازارونو کې د وسپنې او ان د فولادو په پرتله، د مسو بیه لوړه ده. په نړۍ کې د مسو د کانونو کموالي، له نړیوالو بازارونو څخه یې د کانونو اوږد واټن، همدارنګه دې مادې ته په نړیواله کچه زیاته اړتیا او په برقي ماشین الاتو کې یې زیات کارونه، د دی لامل شوی، چې د مسو ارزښت نور هم زیات شي.

د وسپنې د کان د تصفیې او پر فولادو د وسپنې د بدلولو په پرتله د مسو کان تصفیه ستونزمنه او باارزښته ده؛ ځکه هغه معدني مواد لکه اکسایډونه او سلفایډونه، چې د مسو مرکبات په کې زیات دي، په سلفایډونو کې د مسوسلنه له ۳۰- ۴۰ پورې او په اکسایدونو کې یې له ۲۵٪-۱۰ پورې رسېږي. د اسیا سویل ختیځ، چېن، د هندوستان اسام، د قزاقستان الماتا او د تاجکستان د کولاب د مسو کانونه د اکسایډونو معدني مواد لري. هغه کانونه چې د اکسایدونو ترڅنګ، د سلفایدونو کافي مواد لري د لوګر مس عینک، د هرات د ګلرانو، د پاکستان تیرا او د نیپال کتمندو د مسو له کانونو څخه عبارت دي.

په افغانستان کې د چینایي جیولوجیستانو د څېړنو او تفصیحاتو له مخې، د دغه هېواد په ۱۲ بېلابېلو سیمو کې د مسو زیرمې شته. د افغانستان په سویلي او مرکزي سیمو کې، چې له پروانه ترکندهار او فراه پورې ولایتونه په غېږ کې رانغاړي، د مسو بېلابېل کانونه شتون لري. د یادو څېړنو پر بنسټ، د مسو ځېنې کانونه چې د کجکي او مقر ترمنځ سیمو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې موقعیت لري، د ځانګړي اهمیت وړ دي. باید یادونه وکړو چې په نړۍ کې د مسو تر ټولو ستر کان، د افغانستان د لوګر د عینک کان دی. همدارنګه د افغانستان په ځېنو نورو سیمو کې هم د مسو کانونه موندل شوي دي، خو د افغانستان د مسو تر ټولو ستر کان، همدا د لوګر د عینک کان دی، چې د مسو سترې زیرمې لري. د عینک کان د کابل سویل لویدیځ پلو په ۳۵ کیلومترۍ کې د لوګر د عینک په سیمه کې موقعیت لري. د دغه کان څېړنیز او تحقیقاتي پړاوونه لا پخوا بشپړشوي دي او د راایستنې پلانونه یې هم د طرحې تر پړاوه رسیدلي دي. اوسمهال د کانونو وزارت، د عینکو د مسو کان یې د راایستنې په موخه، نړیوالې داوطلبۍ ته وړاندې کړی دی.

دغه کان د نړۍ د مسو تر ټولو ستر کان ګڼل کېږي، چې د ۱۱ میلیونو ټنو په شاوخواکې زیرمه لري؛ دا په داسې حال کې ده، چې تر دې وړاندې کارپوهانو د دې کان زیرمه ۱۰ میلونه ټنه اټکل کړي وه.

دغه کان تر دوو زرو مترو زیات اوږدوالي او د زرو په شاوخواکې سور او له ۶۰ تر ۱۵۰ مترو ژوروالی لري. د عینکو د مسو کان پر دریو مرکزي، سویلي او غربي سیمو باندې ویشل شوي دي،په هغی خبرتیا کې چې د کانونو او صنایعو وزارت د مرکزي نشراتي ارګان یعنې دمعادنو مجلې له خوا د ۱۳۸۶ کال په مرغومي میاشت کې په دې اړه خپره شوې، داسې یادونه شوې ده:

د چین هېواد MCC کمپني د لوګر د عینک د مسو پر کان د نږدې دریو میلیاردو ډالرو په پانګونې سره، په خپل پروپوزل کې د نورو کمپنیو په پرتله افغانستان ته تر ټولو د زیاتې ګټې د ورکولو ژمنه کړې ده. سربیره پر دې، د هېواد له شماله تر ختیځه د وسپنې پټلۍ، چې د هېوا د راتلونکي لپاره ستر اقتصادي حیاتي ارزښت لري، د جوړولو چارې به یې هم د همدې کمپنۍ له خوا پیل شي.

همدا راز دغه کمپنۍ د کابل ښار د بریښنایي اړتیاوو د پوره کولو په موخه، د ۴۰۰ میګاواټو په ظرفیت د ډبرو له سکرو څخه د حرارتي بریښنا د فابریکې د جوړولو ژمنه هم کړې ده، چې ۲۰۰ میګاواټه به یې په کابل ښار کې په مصرف ورسېږي.

همدارنګه دغې کمپنۍ ژمنه کړې، چې د مسو د پروسس، ویلې کولو او د خالصو مسو د تولید بشپړې چارې به د افغانستان په دننه کې ترسره کوي او په پروژه کې به ټول بوخت غیرفني کارکوونکي له افغاني اتباعو څخه ګماري او د افغاني متخصصینو او انجنیرانو د شتون برسیره به فني کارکوونکي هم افغانان وي، کمپنۍ دنده لري، څو د دریو کلونو په اوږدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې افغاني متخصصین وروزي او د بهرنیو کارکوونکو په شمېر کې کموالی راولي. همدارنګه دغه کمپنۍ دا هم منلې، چې ۸۰۸ میلیونه ډالره به د مخکې ورکړې په ډول د افغانستان دولت ته ورکوي.

**د ډبرو د سکرو کان**

د ډبرو سکاره نن ورځ د نړۍ په اقتصاد کې زیات ارزښت او په بېلابېلو کارخانو او فابریکو کې پراخه پیمانه کارول کیږي او د انرژۍ د تامینېدو په موخه هم ترې ګټه اخیستل کېږي. د ډبرو سکاره په لومړي ځل په افغانستان کې د ۱۸۸۰-۱۹۰۱ کلونو په بهیر کې د انګلیسي ځمکو پوهانو، چې (هایډن او ګرالین باخ) نومیدل، تر څېړنې او ارزونې لاندې ونیول شول. دغه څېړنې ښيي چې د ډبرو سکاره په ټولیزه توګه د افغانستان په شمال او د هندوکش په سیمو کې شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دریيم څپرکي پوښتنې:

۱. د یو هېواد په وده کې د کانونو رول او ارزښت څرګند کړئ؟
۲. په افغانستان کې کانونه شتون لري او کنه، که شتون لري، په څه وضعیت کې دي، واضح یې کړئ؟
۳. د افغانستان د کانونو نومونه واخلئ؟
۴. په افغانستان کې د ډبرو د سکرو کان په اړوند تشریحات ورکړئ؟
۵. د نړۍ د مسو تر ټولو ستر کان چېرته موقعیت لري، نوم یې واخلئ؟
۶. د افغانستان د هغو کانونو نومونه واخلئ، چې نړیوال شهرت لري؟
۷. آیا د مالګې کان په افغانستان کی شتون لري، تشریح یې کړئ؟
۸. په افغانستان کې د سمنټو تولید په څه ډول بڼه مومي، خپل معلومات ولیکئ؟
۹. په افغانستان کی د قیمتي ډبرو د کانونو نومونه واخلئ؟
۱۰. د افغانستان د قیمتي ډبرو د کانونو د شهرت په اړه معلومات وړاندې کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

## د افغانستان صنايع

**ټولیزه موخه:**

د افغانستان په اقتصاد کې د صنايعو ونډه

**د زده کړې موخه:** د دغه څپرکي په پای ته رسولو سره له زده کوونکو ټمه کيږي چې:

- د افغانستان د صنايعو په اړه لازم معلومات تر لاسه کړي.
- د افغانستان د صنايعو ډولونو نومونه زده کړي.
- د هېواد د اقتصاد په پراختيا کې د صنعت ونډه بيان کړي

### د افغانستان صنايع

د اقتصادي اوضاع په پرمختيا او وده کې د هېواد د طبيعي او ټولنيزو لاملونو او شرايطو د اغېزو په پام کې نيولو سره کولی شو، دا پايله واخلو چې د افغانستان د ځمکنۍ بنې د جوړښت، تر ځمکې لاندې منابعو (کاني زيرمو)، سطحي منابعو، (حيواني او نباتي)، د اقليم مساعدوالي په ګډون د اوبو او سيندونو د بهيدو سيستم او نور شخصي او طبيعي ځانګړنو او همدارنګه د بشري سالم ځواک د موجوديت له پلوه په دغه هېواد کې د اوسينو عصري صنايعو د پراختيا او پرمختيا لپاره، زيات امکانات شتون لري. خو د ۱۸، ۱۹ او ۲۰ پيړو د لومړيو کلونو ستونزمنو او نامناسبو سياسي، اقتصادي او ټولنيزو لاملونو او شرايطو، چې زياتره اسيايي، افريقايي او د لاتيني امريکا ولسونه يې تر خپلې اغېزې لاندې راوستل او په دغو دريو لويو وچو کې يې ټول مېشت دولتونه د وروسته پاتې او يا مخ پر وده دولتونو په توګه معرفي کړل. يادو لاملونو د دغو هېوادونو د ودې او پرمختګ پر وړاندې ستر خنډونه رامنځ ته کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې اوضاع څخه افغانستان هم بې تاثيره پاتې نه شو. زموږ هېواد هم د همدغو لاملونو له امله د پرمختګ او پرمختيا له کاروانه وروسته پاتې شوخو تراوسه پورې هم د مخ پر ودو هېوادونو په ډله کې شمېرل کېږي او په کې په ملي مفهوم کوم مهم بدلون چې په هېواد کې د پرمختګ څرګندوی او ممثل وي، نه دی رامنځ ته شوی. مخ پر وده هېوادونو کې د عصري صنايعو پرمختيا او رامنځ ته کول تر دويمې نړيوالې جګړې وروسته پيل شو. بايد ووايو په افغانستان کې د ودې او پرمختيا لپاره يو زيات شمېر صنعتي مرکزونه په ځانګړې توګه استهلاکي مالونه، شرايط او مساعد لاملونه شتون لري. اوسمهال زموږ په هېواد کې صنايع په دوو لاسي او ماشيني ډولونو بنه مومي، چې موږ يې په بېل بېل ډول هر يو په لاندې توګه تر بحث او څېړنې لاندې نيسو:

**الف: لاسي صنايع:** لاسي مصنوعات د هغو لاسي کوچنيو دستګاوو توليدات دي، چې د هېواد په بېلابېلو سيمو کې شتون لري او د افغانستان په اقتصاد کې هم کره او رغنده ونډه لري؛ له بلې خوا د هېواد په بهرنۍ سوداګرۍ کې هم د پام وړ رول ادا کوي. تاريخي شواهد ښيي، چې زموږ په هېواد کې له پخوا زمانو د لاسي صنايعو مهم ډولونه لکه: د غاليو او ټغرو اوبدنه، د ټوکر جوړول، ... لمځيو او سطرنجيو جوړول، د پوستين ګنډل، د پګړۍ جوړول، دسمال، شالونو، څادرونو او همدارنګه د اهنګرۍ، زرګرۍ، مسګرۍ، کاشي جوړونې، کلالۍ او داسې نورو صنايعو شتون درلود. همدا اوس د هېواد په لر او بر کې د لاسي صنايعو اته زره کوچنۍ دستګاوې چې له پنځوسو ډلو سره تړاو لري، فعالې دي.

په لاسي صنايعو کې د توليد ډولونه ساده او غيرماشيني دي؛ چې له تيرو وختونو راهيسې په دوديزه بڼه خپل توليدات وړاندې کوي. له همدې امله ده، چې دغه توليدات په نړيوالو بازارونو کې د سيالۍ لږ چانس لري.

د لاسي صنايعو په برخه کې نږدې ۸۰ زره صنعتي موسسې د هېواد په بېلابېلو برخو کې په پټه توګه فعالې دي، خو تنظيموونکي موسسې يې کمې دي.

په افغانستان کې لاسي صنايع په بېلابېلو او جلا جلا څانګو باندې ويشل کېږي:

۱- **د غاليو صنعت:** دا چې د غاليو اوبدلو صنعت کله او په کومه سيمه کې منځ ته راغلی، په اړه يې کره معلومات په لاس کې نه شته، خو دا يو مسلم حقيقت دی، چې د مرکزي اسيا قبيلې، له هغو کسانو څخه دي، چې له ډېرو پخوانيو زمانو د غاليو او ټغرو د توليد چارې يې پرمخ بيولې؛ ځکه چې د دوی په سيمو کې د توليد لپاره تر ډېره بريده د اړتيا وړ شرايط چمتو وو. په هر صورت، د غاليو توليد د افغانستان په لاسي صنايعو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګړی ځای لري او په معمولي توګه له طبيعي ګازو پرته، د هېواد د ټولو صادراتو نږدې ۸ تر ۱۰ سلنې پورې بيه پوره کوي. په هر حال، دغه هېواد له اوږدو پېړيو راهيسې د ښو او عالی غاليو د توليد له پلوه، د پام وړ شهرت لري، چې په نړيوالو مارکيټونو کې ورته ليوالتيا هم زياته ده، د افغاني غاليو تر ټولو لوی امتياز دا دی، چې په لومړي ګام کې يې ټول فعاليتونه لاسي دي او له خالصو افغاني وړيو څخه برابرېږي او په دويم ګام کې، تراوسه پورې پکې دوديز ډيزاينونه ژوندي دي. هغه عمده خام مواد چې په دې صنعت کې کارول کېږي، له وړيو او رنګ څخه عبارت دی، چې زياتره يې د هېواد په دننه کې برابرېږي. د غاليو په صنعت کې په ټوليزه توګه د پسه له وړيو څخه کار اخيستل کېږي. د افغانستان غالۍ تر ټولو زيات په ۹ ولايتونو او ۷۵ کليو کې، چې زياتره يې د هېواد په شمال لويديځو او سويل لويديځو سيمو کې موقعيت لري، توليدېږي، د جنسيت او رنګ له پلوه د افغاني غاليو ۵۷ بېلابېل ډيزاينونه شته، چې معمولاً هر يو يې د يوې ځانګړې سيمې محصول دی.

د افغانستان عمده ولايتونه، چې غالۍ پکې توليدېږي، له خپل کلنۍ تخميني تو ليداتو سره، په لاندې توګه دي: جوزجان ولايت، ۳۱۰ زره متره مربع، فارياب ولايت، ۲۰۰ زره متره مربع، هرات ولايت ۱۰۰ زره متره مربع، بلخ ۶۰ زره متره مربع، بادغيس ۱۰ زره متره مربع او کندز ولايت ۹ زره متره مربع د غاليو کلنۍ توليدات لري.

**د ټغر اوبدلو صنايع:** ټغر اوبدنه هم، د افغانستان له پخوانيو لاسي صنايعو څخه شمېرل کېږي، چې کليوالي ښځې يې په اوبدنه کې زيات مهارت لري؛ د ټغر اوبدنې عمده سيمې د هېواد مرکزي سيمې، بلخ، فارياب، هرات او فراه ولايتونه دي.

لمڅي هم تر غاليو او ټغرو وروسته د افغانستان له مشهورو لاسي صنايعو څخه ګڼل کېږي، چې توليد يې په غربي او مرکزي ولايتونو لکه هرات، فراه، نيمروز، باميان او غزني کې رواج لري او کوچيان يې په جوړولو کې زيات مهارت لري.

همدارنګه د لاسي صنايعو په برخه کې بايد يادونه وکړو، چې پخوا به خلکو د مالوچو له اليافو څخه رخت جوړاوه او جامی به يې ترې برابرولې؛ لکه څرنګه چې به د افغانستان په هره سيمه کې مالوچ کرل کېدل، نو د هغو سيمو خلکو به له مالوچو څخه مالوچي رختونه جوړول، چې د دغه صنعت يو شمېر جنسونه اوس هم دود دي.

د بېلګې په توګه په ننګرهار، لغمان، تخار، کندز، کابل، سمنګانو، بلخ، فارياب، بادغيس، هرات او پروان ولايتونو کې اوس هم ځينې خلک د کرباسو له مالوچو څخه پټو، پګړۍ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

سطرنجۍ، جوال او داسې نور شیان جوړوي. باید هیره نه کړو چې د کاشي جوړونې او ستن ګنډنې صنعت په دې وروستیو کې په هېواد کې په بې ساري توګه پراختیا موندلې ده.

**ماشیني صنایع:** د نویو ماشیني صنایعو او عصري کارخانو بنسټ په لومړي ځل په ۱۸۸۷ کا ل کې د امیرشیر علی خان په دوره کې په افغانستان کې کېښودل شو. تر هغه وروسته یې د امیرعبدالرحمن خان د واکمنۍ پر مهال، دغه صنعت نوره هم وده او پرمختګ وکړ.

افغانستان د خپلواکۍ له ترلاسه کولو مخکې، نوي ماشیني صنایع درلودل، خو دومره محدود او لږ وو، چې د هېواد په اقتصادي ډګر کې یې کومه ځانګړې اغیزه نه لرله.

د هېواد د عصري کولو په موخه د امیرشیرعلی خان تر لومړنیو اقداماتو وروسته، چې لړۍ یي د انګریزانو د ناځاپي یرغل او د افغان او انګلیس دویمې جګړې په پیلیدو سره پرې شوه، امیر عبدالرحمن خان د ۱۹ پیړۍ په وروستیو کلونو کې د کابل ماشین خانې په نامه د لومړني عصري کارخانې بنسټ په افغانستان کې کیښود.

د دغې کارخانې اصلي چارې پیل شوې او بېلابېلې وسلې لکه توپ، ټوپک او ډول ډول مهمات به یې تولیدول.

**ماشیني صنایع (کارخانې):**

افغانستان د کرنیزو هېوادونو له ډلې څخه دی او نویو ماشیني صنایعو پکې په پراخه پیمانه وده نه ده کړې. د تاریخي شواهدو له مخې څرګندېږي، چې ماشیني صنایع په افغانستان کې زیاته مخینه نه لري.

له هغه وروسته چې په افغانستان کې د کابل ماشین خانې کارخانې په فعالیت پیل وکړ، ترڅنګ یې د وړې اوبدنې کارخانې بنسټ هم کیښودل شو؛ باید زیاته کړو، چې یادو کارخانو ټول هغه وسایل او څیزونه تولیدول او برابرول، چې د پوځي موخو لپاره به کار ترې اخیستل کېده.

د افغانستان د هغه مهال حکومت د خپلواکۍ له تر لاسه کولو وروسته هڅه وکړه، څو د سیاسي او نړیوالو اړیکو له پلوه د افغانستان د عصري کولو او صنعتي کولو لپاره زمینې برابرې کړي. پر دې بنسټ، لکه څرنګه چې مخکې هم ترې یادونه وشوه، د دولت په پانګه د آبي بریښنا ستیشنونه، د ګوګړ جوړونې کوچني کارخانه، د اوبدنې کوچنی دستګاه او د نجارۍ او ترکاڼۍ یوه فابریکه رامنځ ته شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څرنګه چې جوته ده، د کارخانې د کار په دوام او پايښت کې د خامو موادو، پانګو او بشري ځواک د برابرېدو څرنګوالي ترټولو ستر رول لري. له دې امله حکومت د شمال د سړک په جوړولو سره د خامو موادو د برابرولو په لټه کې شو. د موادو او پانګې د چمتو کولو په موخه د لومړي ځل لپاره په ۱۳۱۳ کال کې بانک جوړ شو، چې د شخصي پانګو په کار اچولو سره دغه نيمګړتيا هم له منځه لاړه په ۱۳۱۷ کال کې د صنايعو د پرمختيا په موخه د اقتصاد وزارت جوړ شو او په ۱۳۱۸ هـ ش د بغلان د ګوړې فابريکې په کار پيل وکړ او په ۱۳۲۰ هـ ش د پلخمرۍ د نساجۍ فابريکه هم فعاليت ته چمتو شوه.

له هغه ځايه چې ماشيني صنايعو ته د خلکو اړتيا ورځ تر بلې زياتېده، نو حکومت دې ته چمتو شو، څو د لومړنيو صنايعو د لا غوړيدا په موخه يو شمېر بيړني تدبيرونه او پلانونه تر لاس لاندې ونيسي.له دې امله په ۱۳۳۵ کال کې د هېواد پنځه کلن پلان طرح شو. د حکومت په پنځه کلن پلان کې د مواصلاتي کرښو تر جوړيدا وروسته د صنايعو موضوع په دويمه درجه کې قرار درلود؛ په دې توګه د هېواد پراختيا او پرمختيا ته پاملرنه وشوه او د تعميراتي موادو پرمختيا هم په پام کې ونيول شوه.

د اقتصادي دويم پلان د تطبيق په پای کې، د آبي بريښنا، سمنټو او نخي منسوجاتو په توليد کې هم د پام وړ زياتوالی راغی.

د هېواد لومړنۍ نساجي فابريکه په ۱۳۱۵ هـ ش کې په پلخمري کې جوړه شوه او ساختماني چاري يې د پنځو کلونو په بهير کې بشپړې شوې. په ۱۳۱۷ کال کې د جبل السراج د نساجۍ فابريکې هم په فعاليت پيل وکړ او په ۱۳۶۰ هـ ش کې د نساجۍ ۲۵ نورې کوچني او لويې فابريکې هم په کې نصب شوې. د افغانستان د نساجيو د فابريکو له جملې څخه، د افغان نساجۍ فابريکه چې د ګلبهار، پلخمرۍ او جبل السراج د نساجيو فابريکې يکې شاملې دي، د افغانستان د نساجيو ترټولو لويه فابريکه ګڼل کېږي. د دغو فابريکو توليدات هم د هېواد په دننه کې مصرفيږي او هم بهر ته صادريږي.

په ټوليزه توګه بايد څرګنده کړو، چې د يادو فابريکو ترڅنګ، د وخت په تيريدو سره نورې وړې او لويې فابريکې هم، د هېواد په نورو سيمو کې جوړې او په فعاليت يې پيل وکړ. چې موږ کولی شو د بوټ ګنډلو فابريکه، د خوراکي توکو د تيارولو فابريکه، د کندهار د ميوو فابريکه، د مميزو د پاکولو فابريکه، د زيتون د پروسس فابريکه، د بغلان د شکرو فابريکه، د سپين غر فابريکه، مرکزي سيلو، د سمنټو فابريکه، د فلزاتو فابريکه، د حجارۍ او ترکاڼۍ او د داسي نورو فابريکو نومونه واخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په افغانستان کې برېښنا:** د شلمې پېړۍ له نيمايي راهيسې، برېښنا د انرژۍ د ترټولو مهمو پديدو په توګه د صنعت او د بشر د ژوندانه په ټولو چارو کې خپل رول لوبولی. استحصال او استهلاک يې ډېر په چټکۍ سره زيات شو. بايد ووايو، چې له برېښنا څخه په افغانستان کې ګټه اخيستنه په لومړي ځل په ۱۲۷۲ کال د امير عبدالرحمن خان په دوره کې په کابل کې پيل شو. هغه مهال يوه کوچنۍ ډاينمو نصب او د ۴۰ په شاوخوا څراغونو ته يې برېښنا ورکوله او ورپسې په ۱۵/۱۲/۱۲۷۷ نېټه د بخاري انرژۍ يوه بله وړه دستګاه، چې د ۱۹ کيلواټو په شاوخوا کې برېښنا يې توليدوله، په جلال آباد ښار کې په کار واچول شوه، او په پای کې په ۱۲۹۶ هـ ش د برېښنا د توليدولو يوه کوچنۍ دستګاه په پغمان کې فعاله او په کار پيل وکړ، دغې دستګاه ټول ۱۰ کيلواټه برېښنا توليدوله. کله چې په ختيځ کې د عصري صنايعو نهضت خپور شو، نو په افغانستان کې هم د برېښنا انرژۍ د پراختيا او پرمختيا لپاره يو لړ ګامونه واخيستل شول. لکه څرنګه چې په همدې وخت کې د لومړي ځل لپاره د برېښنا د انرژۍ د توليداتو په موخه د افغانستان د بهيدونکو اوبو سروي پيل شوه.

افغانستان د زياتو لوړو سيمو او د غرونو د لوړو څوکو په درلودلو سره زيات سيندونه لري، چې زياتره يې د برېښنا انرژۍ د توليد لپاره په زړه پورې ابشارونه لري. د دغه هېواد سيندونه، د برېښنا انرژۍ د توليد په موخه د تر ټولو ارزانو او کم بيو سرچينو په توګه پېژندل شوي دي. که څه هم د اقليم د وچوالي له امله د کال په بهير کې د سيندونو په رژيم کې توپير رامنځ ته کېږي، خو بيا هم د بندونو په جوړولو سره دغه ستونزه لیرې کیدای شي له همدې امله ده چې افغانستان د برېښنا زيات اوبو ستيشنونه او بندونه لري، چې د اقتصادي ارزښت له پلوه ډېر د اهميت وړ دي، خو له بده مرغه په افغانستان کې د دريو لسيزو جګړو او نا امنيو له امله زياتره دغه بندونه او دستګاوې يا زيانمن او يا هم په بشپړ ډول ويجاړ شوي دي، چې د زياتو ستونزو له شتون سره سره، دولت پر دې توانيدلی، چې په ډېره لږه موده کې يې يو شمېر دغه بندونه بيا ورغول او د سيمې د خلکو ستونزې يې تر يوه بريده اوارې کړي، خو بيا هم د دغو ټولو بندونو او ستيشنونو د بيا رغولو لپاره تر دې زياتو هڅو او منډو ترړو ته اړتيا شته. افغانستان د برېښنا يو شمېر بندونه او ستيشنونه لري، چې دلته په لنډ ډول ترې يادونه کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- د جبل  السراج د اوبو بریښنایي دستګاه.
۲- د وردګ د چک دستګاه.
۳- د پلخمري دستګاه.
۴- د سروبي د بریښنا دستګاه.
۵- د نغلو بند.
۶- د ماهیپر دستګاه.
۷- د ننګرهار پروژه.

همدارنګه باید ووایو چې په افغانستان کې د اوبود بریښنا ترځنګ، له حرارتي بریښنا څخه هم ګټه اخیستل کېږي، چې اوسمهال په هېواد کې د حرارتي بریښنا تر ټولو ستره دستګاه په مزارشریف کې واقع ده. د بریښنا دغه حرارتي دستګاه د هغو طبیعي ګازو په وسیله فعالیت کوي، چې له جوزجان ولایت څخه مزارشریف ته د نل لیکې په وسیله لیږدول کېږي. د دغې حرارتي دستګاه د تولید ظرفیت په یو ساعت کې ۳۶ زره کیلواټه دي، چې تر ۴۸ زرو کیلواټو پورې يې د زیاتیدو شونتیا هم شته. د دغی حرارتي دستګاه د تولید شوې بریښنا یوه برخه په خپله د کوډ او برق په فابریکه کې په مصرف رسیږي او پاتې نوره يې د مزارشریف ښار د روښانولو په موخه دې سیمې ته لیږدول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د څلورم څپرکي لنډيز**

د اقتصادي اوضاع په پرمختيا او وده کې د هېواد د طبيعي او ټولنيزو لاملونو او شرايطو د اغيزو په پام کې نيولو سره کولی شو دا پايله واخلو، چې افغانستان د ځمکنۍ بڼې د جوړښت، تر ځمکې لاندې منابعو (کاني زيرمو)، سطحي منابعو،(حيواني او نباتي)، د اقليم د مساعدوالي په ګډون د اوبو او سيندونو د بهيدو سيستم او نور شخصي او طبيعي ځانګړنو او همدارنګه د بشري سالم ځواک د موجوديت له پلوه، د نني عصري صنايعو د پراختيا او پرمختيا لپاره زيات امکانات لري. خو د ۱۸، ۱۹ او د ۲۰ پيړۍ د لومړيو کلونو ستونزمنو او نامناسبو سياسي، اقتصادي او ټولنيزو لاملونو او شرايطو زياتره اسيايي، افريقايي او د لاتيني امريکا ولسونه يې تر خپلې اغېزې لاندې راوستل، او په دغو دريو لويو وچو کې ټول ميشت دولتونه يې د وروسته پاتو او يا مخ پر وده دولتونو په توګه معرفي کړل. بايد ووايو چې يادو لاملونو د دغو هېوادونو د ودې او پرمختګ پر وړاندې ستر خنډونه رامنځ ته کړل.

له دغې اوضاع څخه افغانستان هم بې تاثيره پاتې نه شو، زموږ هېواد هم د همدغو لاملونو له امله د پرمختګ او پرمختيا له کاروانه وروسته پاتې شو او تراوسه پورې د مخ پر وده هېوادونو په ډله کې شمېرل کېږي او پکې په ملي مفهوم کوم مهم بدلون چې په هېواد کې د پرمختګ څرګندوی او ممثل وي، نه ترسترګو کېږي. په مخ پر وده هېوادونو کې د عصري صنايعو پرمختيا او رامنځ ته کول تر دويمې نړيوالې جګړې وروسته پيل شوه. بايد ووايو په افغانستان کې د ودې او پرمختيا لپاره يو زيات شمېر صنعتي مرکزونه په ځانګړې توګه استهلاکي مالونه، شرايط او مساعد لاملونه شتون لري. زموږ په هېواد کې اوسمهال صنايع په دوو لاسي او ماشيني ډولونو بڼه مومي، چې موږ يې په دې لنډيز کې په لاندې توګه يادونه کوو:

لاسي صنايع له ډېرو  پخوا زمانو په افغانستان کې دود وو، خو ډېر په ساده او لومړنۍ بڼه؛ يعنې کوچني لاسي دستګاوې موجودې وې او خلکو به د هېواد په لر او بر کې په ډېره ساده او لومړنۍ بڼه محصولات توليدول. لاسي صنايع هم د نورو اقتصادي ډګرونو په څېر د هېواد په اقتصادي وده کې کره ونډه لري؛ ځکه له يوې خوا د کورنيو اړتياوو په پوره کولو کې مهم رول لري او له بلې خوا د هېواد په بهرنۍ سوداګرۍ کې د پام وړ ارزښت لري. لاسي صنايع په افغانستان کې په بېلابېلو ډولونو باندې ويشل شوي لکه:

د غالۍ اوبدلو ، ټغر اوبدلو، خامک ګنډلو او ګلدوزۍ، کلالي لوښی او داسې نور صنايع. دغو صنايعو په هېواد کې د پام وړ پراختيا موندلې ده. د ماشيني صنايعو په اړه هم بايد

(c) ketabton.com: The Digital Library

يادونه وکړو، چې نوي ماشيني صنايع او عصري کارخانې په افغانستان کې په لومړي ځل په ۱۸۸۷ کال کې د امير شيرعلي خان په دوره کې دود شول، خو د پرمختللې بڼې بنسټ يې د امير عبدالرحمن د واکمنۍ پر مهال کيښودل شو. د خپلواکۍ له تر لاسه کيدو وړاندې په افغانستان کی ماشيني صنايع دومره محدود وو، چې نه يې شواى کولی په عملي توګه، د افغانستان په اقتصادي وده کی اغېزې ولري.

د ۲۰ پيړۍ په وروستيو کلونو کې اميرعبدالرحمن خان وکولی شول، چې د کابل ماشين خانې په نامه په افغانستان کې د لومړنۍ عصري فابريکې بنسټ کيږدي. امير د دغی فابريکې چارى سمبال کړې او په دغی فابريکه کې د سړې او ګرمې وسلې د بېلابېلو ډولونو د جوړېدو ترڅنګ، توپ، ټوپک او نور مهمات هم توليدېدل. د افغانستان د خپلواکۍ له ترلاسه کيدو وروسته، ماشيني صنايع په هېواد کې ورو ورو د پرمختيا پر لور ګامونه واخيستل. د کابل د ماشين خانې د فابريکې ترڅنګ د وړۍ اوبدلو فابريکه هم جوړه شوه.

د هېواد د خپلواکۍ له ترلاسه کيدو وروسته د هغه مهال حکومت هڅه وکړه، څو له سياسي پلوه په نړيواله کچه د افغانستان د صنعتي کولو لپاره زمينې برابرې کړي. په دې اساس لکه څرنګه چې مخکې مو هم يادونه وکړه، د دولت په پانګونې سره د آبي بريښنا د دستګاوو او کوچنيو **کارخانو لکه:** د ګوګړ جوړونې، څرمن جوړونې، د اوبدلو او داسې نورو په واردولو سره يې، وطني توليدات بازار ته وړاندې شول؛ چې دا په خپله په هېواد کې د ماشيني صنايعو ودې ته د ځانګړي پاملرنې په معنا ده.

په همدې توګه، نور کوچنۍ او لويې فابريکې هم يو په بل پسې جوړې شوې، چې په ۱۳۶۸ کال کې يوازې د نساجيو فابريکو شمېر ۲۵ ته رسېده. همدا راز نورې فابريکې لکه: د بوټ ګنډلو، د خوراکي توکو د برابرولو، د کندهار د ميوو، د مميز پاکولو، د زيتون د پروسس، د بغلان د شکرو، سپين غر، مرکزي سيلو، د سمنټو، فلزاتو، ځنګلونو او داسې نورو فابريکو هم په فعاليت پيل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څلورم څپرکي پوښتنې:

۱. په افغانستان کې د صنعت د تاریخچې په اړه معلومات وړاندې کړئ؟
۲. په افغانستان کې صنایع په څو ډولونو بېله مومي؟
۳. د افغانستان د لاسي صنایعو په اړه معلومات وړاندې کړئ؟
۴. ماشیني صنایعو له کوم وخت را په دې خوا په افغانستان کې رواج وموند؟
۵. لومړنۍ فابریکه په افغانستان کې د کوم پاچا د واکمنۍ پر مهال په کار پیل وکړ او څه نومېده؟
۶. په افغانستان کې د برېښنا د تاریخچې په اړه معلومات وړاندې کړئ؟
۷. د افغانستان د برېښنا د بندونو نومونه واخلئ؟
۸. حرارتي برېښنا د افغانستان په کومه سیمه په څه ډول او په څه بڼه کارول کېږي؟
۹. د یو هېواد، په ځانګړي توګه زموږ د خپل هېواد افغانستان په اقتصادي پرمختیا کې د برېښنا ارزښت بیان کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

## په افغانستان کې سوداګري او مواصلات

**ټولیزه موخه:**
د هیواد په اقتصادي وده کې د سوداګرۍ او مواصلاتو ارزښت.

**د زده کړې موخې:** ددغه څپرکي په پای کې له زده کوونکو دا تمه کېږي چې:
- د سوداګرۍ او مواصلاتو اقتصادي ارزښت تشریح کړي.
- د افغانستان د سوداګرۍ بهرنۍ حوزې وپېژني.
- له ګاونډیو هیوادونو سره د افغانستان په تجارتي اړیکو وپوهېږي
- د افغانستان واردات او صادرات تشریح کړي.
- د افغانستان د مواصلاتو په اړه معلومات تر لاسه کړي.

### په افغانستان کې سوداګري او مواصلات

**الف: سوداګري:** کله چې اضافي توکي او خدمتونه تبادلې ته وړاندې شي، د سوداګرۍ موضوع منځ ته راځي. انسانانو له ډېرو پخوا زمانو راهیسې په خپله سیمه او بیا د خپل محل په شاوخوا او ورپسې په لیرې سیمو کې د خپلو توکو په راکړه ورکړه لاس پورې کاوه.

د افغانستان خلک چې په تیرو زمانو کې د اریایانو په نامه یادېدل، په دې سیمه کې د خپل جغرافیایي موقعیت له مخې، چې د هغه مهال د تمدن په څلور لاره کې واقع وه، د خپلو توکو په راکړه ورکړه کې یې پوره ونډه اخیسته.

یعنې هغه مهال، دغه خاوره په داسې یوه جغرافیایي موقعیت کې قرار درلود، چې ختیځ پلو ته یې د هند او چین او لویدیځ لوري ته یې د ایران، یونان او روم تمدنونه مېشت وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم یو شمېر تاریخ لیکونکي باور لري، چې د ختیځ او لویدیځ ترمنځ تماس او اړیکې د سکندر مقدوني له دورې راوروسته پیل شوي، خو شواهد ښيي، چې تر هغه مخکې هم یو شمېر غربي سوداګرو ختیځو سیمو ته سفرونه کول؛ د لویدیځ او ختیځ ترمنځ به د سوداګریزو مالونو کاروانونو تګ راتګ کاوه، چې افغانستان له همغې ورځې راهیسې په سوداګرۍ کې د خپل ځانګړي جغرافیایي موقعیت له مخې ځانګړي ځاي درلود.

اوسمهال سوداګري په افغانستان کې هم له خپل ځانګړي ارزښت څخه برخمنه ده ، نن ورځ په افغانستان کې ډېرې تولید شوي مالوچ، غوړ حبوبات، د قره قل پوستکي، وړۍ، طبیعي ګاز، سمنټ، میوې او لاجورد ګاونډیو هېوادونو ته صادرېږي.

د افغانستان د بهرنۍ سوداګرۍ په اړه باید یادونه وکړو، چې هغه مهال به د افغانستان بهرنۍ سوداګري له دریو ټاکلو حوزو سره ترسره کېده.

۱- د بارېرۍ سوداګریزه حوزه.

۲- د ازادې سوداګرۍ حوزه.

۳- د هند د نیمې وچې حوزه.

**د بارېرۍ حوزې سره د افغانستان سوداګري**

د سوداګرۍ په دغه ډول کې د مالونو راکړه ورکړه د هغه تړون له مخې ترسره کیږي، چې مخکې له مخکې د دوو هېوادونو ترمنځ لاسلیک شوی وي. د چین، پخواني شوروي اتحاد، پولنډ، چکوسلواکیا، بلغاریا او له ځینو نورو هېوادونو سره د افغانستان سوداګري له دغې لارې تر سره کېده. باید زیاته کړوچې، بارېري قراردادونه له هغو تړونونو څخه عبارت دي، چې د دوو هېوادونو ترمنځ په امضا رسیږېږي. د دغه تړون له مخې له پولي اړخه، د دواړو هېوادونو د صاداراتي توکو بیه باید مساوي وي. د دې ترڅنګ به د دغه توکو لپاره مخکې له مخکې یوه مشخصه بیه ټاکل کېږي او ورسره د یو کال لپاره تثبیت شوې اندازه او ځرنګوالی د اعتبار وړ وي، خو باید څرګنده کړو، له ډېرو کلونو راهیسې دغه ډول سوداګري زموږ په هېواد کې رواج نه لري. په دې وروستیو کلونو کې په دې برخه کې زموږ هېواد د نړۍ له هېڅ کوم هېواد سره هېڅ راز قرار داد یا تړون نه دی لاسلیک کړی، بلکې زموږ د هېواد د نن ورځې سوداګرۍ د ازاد بازار د سوداګرۍ په بڼه تر سره کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**له ازادې حوزې سره د افغانستان سوداګري**

د ازادې حوزې سوداګري د افغانستان د سوداګرۍ هغه بڼه ده، چې یو شمېر اروپايي او اسيايي هېوادونه او د امریکا متحده ایالات او جاپان هېوادونه پکې شامل دي. له دغې حوزې سره د مبادلاتو حجم د بیې په پام کې نیولو سره تغییر کوي. دغې حوزې ته د افغانستان صادرات له قره قل، غالیو، د مالوچو لړه اندازه، وړۍ، پوستکو، کولمو، میوو او مغزیاتو (مندکو)څخه عبارت دی؛ له دغو هېوادونو څخه واردات د ماشینونو بېلابېل ډولونه، ګاډي او د استهلاکي توکو بېلابېل ډولونه دي. باید ووایو چې اروپایان له ډېرو پخوا زمانو راهیسې د افغانستان د کرنیزو توکو له تولیداتو سره بلدتیا لري او خپلو هېوادونو ته یې په واردولو لاس پورې کوي.

دغه سوداګري د افغانستان د خپلواکۍ د ترلاسه کېدو تر شپو ورځو پورې د بهرنیانو له خوا ترسره کېده، له ۱۹۱۹ کال څخه وروسته د لویدیځو هېوادونو سره د سیاسي اړیکو له ټینګېدو سره جوخت، د دغو هېوادونو سوداګریزو استازخونو(نماینده ګیو) په افغانستان کې په کار پیل وکړ، له دې سره یو ځای افغاني سوداګرو هم په تدریجي ډول خپل تولیدات په مستقیمه توګه اروپايي بازارونو ته لیږدول.

په تېرو وختونو کې به له انګلستان، جرمني او جاپان سره د افغانستان سوداګري په مستقیمه توګه ترسره کېده؛ په دې توګه د انګلستان هېواد د افغانستان د پوستکو، قره قل، مالوچو، وړیو او غالیو عمده پیریدونکی وو، همدارنګه د وچو او تازه میوو په اړه هم په دغو هېوادونو کې زیاته لیوالتیا وجود لري.

**د ګاونډیو او د نړۍ له نورو هېوادونو سره د افغانستان سوداګریزې اړیکې**

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د خلکو د ژوندانه د کچې لوړتیا په موخه او د هېواد د اقتصاد په وده کې د سوداګرۍ د ارزښت په پام کې نیولو سره، دغه سکټور ته ځانګړې پاملرنه کړې ده، د مارکیټ د سیستم دودول او د نړیوالې سوداګرۍ سازمان د مقررو له مخې د ازادې سوداګرۍ د کړنلارو د منلو پر بنسټ تصمیم نیول ، د هېواد د سوداګریزې تګلارې په توګه په راتلونکي کې منلې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ټولو دمخه له ګاونډیو هېوادونو او د سیمې او نړۍ له نورو هېوادونو سره، چې افغانستان ورسره بنسټیزه سوداګریزه اړیکه لري، د هېواد سوداګریزې اړیکې بېرته ټینګې شوې؛ دغه اړیکې له ګاونډیو او د سیمې له نورو هېوادونو سره د دوه اړخیزو او درې اړخیزو تړونونو په لاسلیکولو سره غښتلي شوي دي. لکه څرنګه چې افغانستان د تېرو پنځو کلونو په بهیر کې له یو شمیر هېوادونو لکه: ترکیه، هندوستان، تاجکستان، ازبکستان، قزاقستان، قرغیزستان، اوکراین، ایران، د چین د خلکو جمهوریت، جرمني، امریکا، انګلستان، چک، پاکستان او نورو سره (۴۳) تړونونه لاسلیک کړي دي.

لاسلیک شوي تړونونه په ټولیزه توګه د سوداګرۍ، اقتصادي همکارۍ، ترانسپورټي ترانزیټ، د اوسپنې پټلۍ او د سوداګرۍ او صنایعو د خونو ترمنځ د همکاریو په تړاو د او له نورو هېوادونو سره د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو د تړونونو د لاسلیکولو لړۍ دوام لري او په دې برخه کې اړوندې طرحې ترتیب او د دواړو لوریو د متخصصینو تر څېړنې او ارزونې لاندې قرار لري.

د یادو تړونونو په لاسلیکولو سره له ډېرو هېوادونو سره د افغانستان سوداګریزې اړیکې بیرته نورمال حالت ته ګرځېدلي او دوام لري په سوداګرۍ کې د پام وړ بدلون ترسترګو کېږي؛ واردات او صادرات تر ډېره بریده د هېواد کورني تولیدات تر خپلې مثبتې اغېزې لاندې راوستي دي؛ د هغو معتبرو شمېرنو له مخې چې تراوسه پورې ترلاسه شوي، د هېواد د ناخالصو تولیداتو یعنې GdP ټولیز حجم ۱۶٪ ته لوړ شوی او هیله ده، چې په راتلونکي کلونو کې به دغه شمېره نوره هم اوچته شي.

د پورتنیو ټکیو په پام کې نیولو سره، د یادونې وړ ده، چې افغانستان نه یوازې له نورو هېوادونو سره د دوه اړخیزو اړیکو د ټینګولو په موخه کوټلي ګامونه اخیستي، بلکې په نړیوالو لویو منابعو کې یې هم خپل موجودیت تثبیت کړی دی. لکه څرنګه، چې اوسمهال د ایکو په سیمه ییز اقتصادي، د مرکزي اسیا د همکاریو carec، د سویلي اسیا د سیمه ییزو همکاریو saark او په اسلامي کنفرانس DIC سازمانونو کې یې غړیتوب ترلاسه کړی. همدارنګه په نړیوال سوداګریز سازمان WTO کې د ناظر په توګه منل شوی، په دې سازمان کې د افغانستان د غړیتوب پړاوونه تر کار لاندې دي او هیله ده، په نږدې راتلونکي کې به په دغه لوی نړیوال سازمان کې هم غړیتوب هم ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغو زياتو هڅو سره سره چې په افغانستان کې د سوداګرۍ په برخه کې ترسره شوي او په دې اړه د پام وړ اسانتياوې رامنځ ته شوي، خو د افغانستان اسلامي جمهوري بيا هم له يو شمېر ننګونو سره مخ دی؛ که څه هم دوه درې لويې لارې چې هېواد له ايران، پاکستان او شمالي ګاونډيو هېوادونو سره نښلوي، بېرته رغول شوي او ګټه اخيستنې ته چمتو شوي، خو د ټرافيکي حجم له پلوه، يادې لويې لارې په هېواد کې ترافيکي اړتياوې نه پوره کوي. لازمه ده چې په دې برخه کې لا نور رغنده ګامونه واخيستل شي.

سربېره پر دې، دغه سړکونه د هېواد مرکز له ولايتونو او ولايتونه له يو بل سره په ښه توګه نښلوي او په ښه وضعيت کې قرار لري، خو بيا هم په دې برخه کې د نړيوالې ټولنې او نورو دوستانو لا زياتو پاملرنو ته اړتيا محسوسيږي.

که څه هم د ترانسپورټ په برخه کې پرمختګونه شوي، خو بيا هم يو لړ ستونزې موجودې دي؛ دغه ستونزې له ايران، ازبکستان او په ډېره کچه له پاکستان سره دي، هيله ده، چې د دوستانو په پاملرنې سره دغه ستونزې هم اوارې شي.

**د ايران له اسلامي جمهوريت سره سوداګريزې اړيکې:** له ايران سره د افغانستان د تاريخي اړيکو په پام کې نيولو سره، د افغانستان اسلامي جمهوري دورې تر پيلېدو وروسته د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګريزې او اقتصادي اړيکې ډېرې پياوړې شوي؛ چې له ياد هېواد سره د سوداګريزو اړيکو د لا ښه ټينګښت په موخه کولی شو، په فراه ولايت کې د ابونصر فراهي د جديد التاسيس بندر د جوړېدو ترځنګ په ۱۳۸۷ کال کې د نيمروز ولايت د زرنج په پوله کې، له ميلک پله سره د وريښمن پل له پرانيستنې څخه د يوې بيلګې په توګه يادونه وکړو.

له تاجکستان جمهوري هېواد سره سوداګريزې اړيکې: د تېرو دوه نيمو لسيزو جګړو او ناامنيو په بهيرکی له تاجکستان هېواد سره د افغانستان سوداګريزې اړيکې يو مخ پرې شوي وې؛ خو اوسمهال د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګري په نورماله توګه دوام لري؛ او لا هم د پرمختيا پر لور روانه ده.

د شبرغان په ښار کې د پنج سيند پر سر د نوې پله پرانېستنه، د دواړو لورو ترمنځ د دوه اړخيزو او درې اړخيزو سوداګريزو، ترانزيټي او د پانګې اچونې تړونونو لاسليک کېدل، دغه اړيکې لا پياوړې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**له هندوستان هېواد سره سوداګريزې اړيکې:** له هندوستان سره سوداګريزې اړيکې د تېرو کلونو په بهیر کې په نورماله توګه بلل شوی، خو په افغانستان کې د انتقالي دولت تر ټينګښت وروسته، د هندوستان هېواد د افغاني وچو، تازه ميوو او طبي نباتاتو لپاره تر ټولو د ښه مارکيټ په توګه پيژندل شوی دی.

د هندوستان دولت د افغاني صادراتي ۳۷ توکو لپاره ګمرکي تخفيف منلی، چې له دې جملې څخه ۱۱ يې په بشپړه توګه له محصول څخه معاف او د پاتې نورو لپاره يې ۵۰٪ سلنه ګمرکي ترجيحات امتيازات ورکړي؛ همدارنګه په دې هېواد کې لکه په دهلي او ممبيي ښارونو کې د سوداګريزو نندارتونونو جوړول او په دې نندارتونونو کې د افغاني صادراتو لپاره د بازار موندنې په موخه د افغاني سوداګرو ګډون، د افغانستان د سوداګريزو او صادراتي توکو لپاره ښې زمينې برابرې کړي دي.

**له پاکستان اسلامي جمهوريت سره سوداګريزې اړيکې:** هغه ټرانزيټي پروتوکول، چې په ۱۹۴۰ ميلادي کال کې د دواړو لورو (د افغانستان اسلامي جمهوري او پاکستان جمهوري) هېوادونو ترمنځ لاسليک شوي او تر اوسه پورې مرعي الاجرا دی، له بده مرغه د پاکستان لوري له خوا هېڅکله په پام کې نه دی نيول شوي او په پرله پسې توګه د دغه هېواد د مسوولينو له خوا نقض شوي دي.

د پاکستان په خاوره کې د افغاني توکو او مالونو ترانزيټ له ننګونو سره مخ دی، چې په دې اړه د دواړو هېوادونو لوړ پوړو پلاوو په وار وار له يو بل سره ليده کاته او خبرې اترې کړي، خو بيا هم د ياد هېواد له لوري دغه پروتوکول عملي شوی نه دی؛ غيررسمي سوداګرۍ او د پاکستان له خاورې څخه زموږ هېواد ته د مالونو قاچاق، يوه بله لويه ستونزه ده، چې د افغانستان دولت عوايد يې ډېر زيانمن کړی او په دې توګه د افغانستان مارکيټ د پاکستان له زاړه او بې کيفيته توکو څخه ډک شوی دی.

د چين له هېواد سره د افغانستان سوداګريزې اړيکې ښې ارزول شوي، په دې توګه له دغه هېواد څخه د افغاني سوداګرو مالونه د قزاقستان او ازبکستان له ترانزيټي لارو څخه افغانستان ته وارديږي او دغه لړۍ په عادي بڼه دوام لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه له نورو هېوادونو سره د افغانستان سوداګريزې اړيکې هم ښې ارزول شوي دي. خو د ګاونډيو او د سيمې د هېوادونو په پرتله، له نورو بهرنيو هېوادونو څخه د افغانستان واردات په لږه پيمانه دي.

د هغو رسمي رپوټونو له مخې چې د سوداګرۍ وزارت له خوا خپاره شوي، په اوسنيو شرايطو کې له ګاونډيو او د سيمې له نورو هېوادونو سره د افغانستان سوداګريزې اړيکې مخ پر وده او د پراختيا په حال کې دي. په ځانګړي توګه د هند، پاکستان، تاجکستان او ايران له هېوادونو سره. بايد ووايو چې د افغانستان عمده سوداګريز شريکان همدغه دري هېوادونه، لکه ايران، پاکستان او هند دي. همدا راز له لاندېنيو هېوادونو سره په رسمي توګه سوداګريز تړونونه لاسليک شوي دي: چين، پاکستان، هندوستان، ازبکستان، ترکمنستان او ايران.

**د افغانستان صادرات**

د افغانستان صادرات هم د نورو پرمختيايي هېوادونو په شان خوراکي او خام توکي دي، چې په بدل کې يې زيات شمېر د پانګونې وړ او استهلاکي توکي واردوي. دغه هېواد د نورو مخ پر وده هېوادونو په څېر په خپلو بهرنيو سوداګريزو چارو کې له يو لړ مهمو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي. د افغانستان د صادراتو ډېره برخه لا هم کرنيز دوديز محصولات جوړوي. د دغو محصولاتو د ډېرو توکو لپاره په بهر کې ډېره ليوالتيا موجوده ده. د سوداګرۍ او صنايعو وزارت د صادراتو د عمومي مديريت د وروستيو کلونو د رسمي رپوټونو له مخې، د هېواد عمده صادراتي توکي عبارت دي له: وچې ميوې، غالۍ، معدني ډبرې، لاسي صنايع، طبي نباتات، د قره قل پوستکي او داسې نور ، چې د نړۍ تر ۵۰ زياتو هېوادونو ته صادرېږي.

په خپله د سوداګرۍ وزير د شخصي رپوټ له مخې، د افغانستان صادرات په ۱۳۸۱کال کې ۱۰۰ ميليونو ډالرو ته رسېده.

له ۱۳۷۷ تر ۱۳۸۷ کلونو پورې په زرو امريکايي ډالرو د افغانستان د صنعتي او کرنيزو

(c) ketabton.com: The Digital Library

توکو بیه

| کڼه | ١ | ٢ | ٣ | ٤ | ٥ | ٦ | ٧ | ٨ | ٩ | ١٠ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اقلام | تازه میوه | وچه میوه | طبی نباتات | تخمونه | کریانه باب | پوستکي | وړی | کولمې | غالۍ | مجموع صادرات |
| ١٣٨٧ | ٥,٧٩٧ | ٩,٢٧٨ | ٠,١٩٥ | ٠,٣٨٥ | ٠,٦٤ | ٢,١١٦ | ١,٢٦٦ | ٠,١٠٠ | ١٤٧,٠٣٦ | ١٦٦,٢٣٧ |
| ١٣٧٩ | ٨,٤٠٣ | ١٦,١٠٠ | ٠,٦٦٩ | ٠,٨٨ | ٠,١٧٠ | ١٠,٨٤١ | ٠,٩٠٤ | ٠,٢٨٥ | ٩٩,٥٧١ | ١٣٧,٠٣١ |
| ١٣٨٠ | ٤,٢٤٩ | ٢٢,٥٠٩ | ١,٩٣٥ | ٠,١٩٨ | ٠,٥١٨ | ١٣,٨٧٨ | ٢,٩٦٧ | ٠,١٤٤ | ١,٥٠٣ | ٦٨,٠٩٧ |
| ١٣٨١ | ٨,٥٨٧ | ٥٧,٩٥١ | ٤,٦٤٦ | ١,٠٠٦ | ١,٠٥٠ | ٩,١٧٣ | ٣,٦٥٦ | ١,٠ | ١٤,٠٥٦ | ١٠٠,٠٩٠ |
| ١٣٨٢ | ٧,٧٧١ | ٥٦,٨١٣ | ٩,٢١٧ | ٦,١٣٨ | ٣,٣٩٩ | ٢٨,٨٤٩ | ٧,٣٢٢ | ٠,٩٦ | ٢٤,٤٨٣ | ١٣٤,٧٨٨ |
| ١٣٨٣ | ١٢,٦٢٤ | ٨٣,٨٨٣ | ٨,٦٦١ | ٢,٨٩٣ | ٤,٠٨٩ | ٢١,٦٧٤ | ٨,٧٥٩ | ٠,٦٣ | ١٦٢,٤٢٨ | ٣٠٥,١٤٩ |
| ١٣٨٤ | ١٤,٩٩٨ | ٨٦,٦٧٢ | ٣,٨٧٤ | ١,٢٠٦ | ١,٥٦١ | ٣٠,٦٨٥ | ٥,٦٢٨ | ٠,١٦٣ | ٢٣٨,٩٥١ | ٣٨٣,٧٤١ |
| ١٣٨٥ | ٢٥,٨٨٤ | ١٢٩,١٥٤ | ٢,٦٦١ | ١,٥٥٥ | ٢,٧٠٣ | ٢٣,٥٩٠ | ٨,٥٥٠ | ٠,٣١٩ | ٢٣٠,٩١٦ | ٤١٦,٤٦٣ |
| ١٣٨٦ | ٤١,٣٢٦ | ١١٧,٤٨٠ | ٢,٩٧٣ | ١,٤٦٣ | ٢,٤٥٠ | ١٨,٠٣٧ | ٧,٦١٣ | ٠,٤٣٠ | ٢٦٢,٢٨١ | ٤٥٤,٠٥٣ |
| ١٣٨٧ | ٤١,٢٤٣ | ٢٤٥,٤٤٦ | ٢١,٢٥٣ | ٦,٧٥٨ | ٠,٧٥١ | ٢٠,٨٩٧ | ٥,٧٣١ | ٣,٦٨٥ | ١٤٩,٦٢٢ | ٥٤٤,٥٦١ |

په ۱۳۸۲ کال کې ۱۴۴ میلیونو ډالرو، په ۱۳۸۳ کال کې ۳۰۵ میلیونو ډالرو، په ۱۳۸۴ کال کې ۳۸۴ میلیونو ډالرو، په ۱۳۸۵ کال کې ۴۱۶ میلیونو ډالرو، په ۱۳۸۶ کال کې ۴۰۶ میلیونو ډالرو او په ۱۳۸۷ کال کې ۵۰۰ ملیونو ډالرو ته رسیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د افغانستان واردات**

باید څرګنده کړو، چې د افغانستان صنعت په کافي اندازه پرمختګ نه دی کړی، نو له دې امله، افغانان خپل د اړتیا وړ لومړني توکي له بهره واردوي.

په داسې حال کې، چې د هېواد صادراتي توکي یوازې څو قلمه تشکیلوي، خو وارداتي توکي یې بېلابېل ډولونه لري او شمېر یې هم زیات دی؛ هغه استهلاکي توکي چې له بهره هېواد ته واردېږي، د وروستیو کلونو د شمېرنو او معلوماتو له مخې، تر ټولو مهم یې له ماشینونو، تعمیراتي موادو، منسوجاتو، د کور لوازمو، پټرولو، ګازو، درملو او د اړتیا وړ په سلګونو نورو څیزونو او توکو څخه عبارت دي. له هغه ځایه، چې په وروستیو کلونو کې زموږ په هېواد افغانستان کې د بیارغونې چارې دوام لري، نو له دې امله ټول د اړتیا وړ توکي له بهره واردیږي. همدا سبب دی چې د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د ۱۳۸۶ کال په رپوټ کې راغلي دي، د هېواد د وارداتي توکو بیې ۳ میلیاردو ډالرو ته رسېدلې دي، چې د هېواد د صادراتي  توکو د بیې په تناسب، د هېواد د سوداګرۍ بېلانس له ستر کسر سره مخامخ دې.

**په افغانستان کې مواصلات**

د نړۍ اقتصادي تاریخ د دې څرګندوی دی، چې مواصلاتي کرښې او ټرانسپورټي وسایل د انساني ټولنو د اړتیاوو په پوره کولو کې د یادولو وړ پوره او بازاري ونډه ادا کړې ده او په ډېرو ستونزمنو شرایطو او حالاتو کې یې د انسانانو د اړتیا وړ مالونه او توکي د نړۍ په ډېرو لیرې پرتو سیمو کې د هغوی په واک کې ورکړي دي. له همدې امله له بېلابېلو ترانسپورټي لارو چاروڅخه ګټه اخیستنه لکه: هوایي کرښې، سمندري او ځمکنۍ لارې کولی شي، د ترانسپورټي وسایلو په انتخاب کې متغیر انتخابونه د انسان مخې ته کېږدي. دا چې، د حمل او نقل او د ترانسپورټ له کومو وسایلو څخه استفاده د انسانانو لپاره ډېرې ګټې لري، دا یوه پېچلې او د نه تفکیک وړ موضوع ده، خو په بشپړ وضاحت سره ویلی شو، چې د حمل او نقل او ترانسپورټ هرې وسیلې، چې انسانانو یې د رامنځ ته کېدو له مهاله ترې ګټه اخیستې ،توانېدلي چې د سوداګریزو بارونو، د مسافر په توګه د انساني ځواک او د لېږدونې او نورو توکو په لېږدولو کې د پام وړ برخه واخلي.

وروستۍ درې لسیزې د هېواد په اقتصادي ژوندانه کې په ځانګړې توګه د سوداګریزو بارونو او انساني ځواک د ترانسپورټ په برخه کې، له ننګونو څخه ډکې وې؛ په هېواد کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

حلقوي سرکونه او ځمکينو لارو له ګواښمنو او ستونزمنو شرايطو او حالاتو سره سره، د لېږدونې په برخه کې يې زياته ونډه ادا کړې ده. د شلمې پېړۍ په دويمه لسيزه کې د امان الله غازي پاچا د واکمنۍ پر مهال د افغانستان د وسپنې پټلۍ جوړول، چې له بدمرغه په همغه پيل کې، چې د هرات د تورغونډۍ له پولې څخه لا لس کيلومتره نه وه تيره شوې، چې د بهرنيو او کورنيو دسيسو له امله، د امان الله خان حکومت ړنګ شو او د وخت پاچا غازي امان الله خان د افغانستان د وسپنې پټلۍ د جوړولو او پرانيستنه هيله له ځان سره ګور ته يوړه.

له هغه ځايه، چې افغانستان د هغو هېوادونو له ډلې څخه دی، چې په وچه کې ايسار دی، او په دې اساس، په دې هېواد کې د سمندري ترانسپورټ رامنځ ته کول او فعاليت ناشونی دی؛ له دې کبله، د ځمکنۍ ترانسپورټ پراختيا او وده د هېواد په ترانسپورټي فعاليتونو کې د منلو وړ انتخاب ګڼل کېږي. په وچه کې د افغانستان د ايسارتيا له امله، د دې لپاره هېڅ هيله موجوده نه ده، چې سمندري مواصلاتي لارې رامنځ ته او ګټې اخيستنې ته وړاندې شي.

په هېواد کې وروستي بدلونونه او د هېواد د نافذه اساسي قانون د لسمې او يوولسمې مادې په رڼا کې د بازار د اقتصادي نظام د سياست ټاکل، په هېواد کې د خصوصي سکتور لپاره د هوايي شرکتونو د جوړولو په موخه شرايط برابر کړي .لکه څرنګه چې په ډېره لږه موده کې څو خصوصي هوايي شرکتونو په هېواد کې د فعاليت جواز ترلاسه کړي، چې دغه شرکتونه همدا اوس په ډېر لوړ کيفيت د هوايي ترانسپورټ په برخه کې خپل فعاليتونه سرته رسوي. سربېره پر دې چې د لويو لارو، حلقوي سړکونو او د وسپنې پټلۍ د جوړولو په برخه کې، پانګونه کومه ګټه نه لري او همدارنګه خصوصي سکتور هم په دغو برخو کې د پانګونې لېوالتيا نه لري. دولت چې د ازاد بازار په اقتصادي نظام کې د ناظر په توګه رول ادا کوي، په دې برخو کې پانګونه کړې ده او له نېکه مرغه تراوسه پورې د لويو لارو، حلقوي او فرعي سړکونو په جوړولو کې زياتې هڅې کړي، چې په دې برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې لري. همدا راز خصوصي سکتور له دغه فرصت څخه په ګټه اخيستنې، د ځمکنې ترانسپورټ د وسايلو په برابرولو او د ترانسپورټي او ترانزيټي اتحاديو په رامنځ ته کولو سره، د ښو عملي کړنو جوګه شوی او په دې برخه کې يې ښې لاسته راوړنې هم لرلي دي.

له هغه ځايه، چې د وسپنې پټلۍ د جوړولو لپاره ډېرو پانګو او پيسو ته اړتيا شته، خو له دې سره سره بيا هم  دولت تر اوسه پورې په دې برخه کې زياتې هڅې او منډې تړړې کړي، چې په لاندې توګه ترې يادونه کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هرات او خواف د وسپنې پټلۍ د جوړولو اجراييوي عمليات پيل شوي. د اورګاډي د پټلۍ دغه کرښه افغانستان د ايران د وسپنې پټلۍ له کرښې او له هغه ځايه بيا له اروپا سره نښلوي، چې د دغې پروژې په بشپړېدو سره به زموږ هېواد د لومړي ځل لپاره د وسپنې پټلۍ خاوند شي او د ايران د وسپنې پټلۍ د کرښې له لارې به د ترکيې، اروپا او د فارس په خليج کې د ايران سمندري بندرونو ته لاره مومي.

د دغې پروژې ټول لګښتونه به د ايران له کورنۍ بوديجې او د همدې هېواد د بلاعوضو مرستو له فنډ څخه تمويلېږي. د دې وسپنې پټلۍ دکرښې اوږدوالي ۱۹۱ کيلومترو ته رسېږي.

ددغې وسپنې پټلۍ کرښه تر هراته پورې نه محدودېږي، بلکې د هېواد شمال لوري ته به تر شبرخان بندره پورې وغځول شي، چې تر هغه ځايه پورې به يې ټول اوږدوالی ۱۲۵۰ کيلومترو ته ورسېږي.

د دغې سترې پروژې ټول لګښتونه نږدې دوه ميليارده امريکايي ډالره اټکل شوي، چې د اقتصادي چارو د کارپوهانو په باور د هرات – خواف د وسپنې پټلۍ غځول په واقعيت کې، د وربښمو دهمغې پخوانۍ لارې بيا پرانېستنه ده، چې په تېرو وختونو کې يې افغانستان د نړۍ له مواصلاتي لارو سره وصل کړی و. داسې ښکاري، چې د وسپنې پټلۍ ياده کرښه به منځنۍ اسيا د ايران له بندر عباس، د پاکستان له کراچي بندر، د هندوستان له ممبيی بندر او نورو نړيوالو بندرونو سره، چې د اسيا سويل او شمال سره ، ونښلوي.

د وسپنې پټلۍ دغه کرښه د مصرف مارکيټ او د منځنۍ اسيا د سوداګريزو مالونو په ځانګړي توګه د نفتو او ګازو د صدور د بازار له پلوه، کولی شي، افغانستان د نړۍ په کچه د مواصلاتو د پام وړ مسير په توګه مطرح کړي. اټکل شوي، چې په هر کال کې به له ۱۰ تر ۱۵ ميليونه ټنه سوداګريز مالونه له دغې لارې څخه ترانزيټ شي، چې د دغه ترانزيټ له پلوه به له ۳۰۰-۴۰۰ مليونه امريکايي ډالرو په شاوخوا کې زموږ هېواد حق العبور ترلاسه کړي.

د پورتنيو ټکيو په پام کې نيولو سره، بايد څرګنده کړو، چې د مواصلاتي کرښو پراختيا د هېواد د صنعتي فعاليتونو د پرمختيا په لاره کې رغنده رول او بنسټيزه ونډه لرلی شي.

**الف: د کابل – تورخم سړک:** دغه سړک د هېواد له مهمو سړکونو څخه ګڼل کېږي، چې د تورخم د پولې له لارې د پېښور د تورخم له درې او د کراچۍ د وسپنې پټلۍ له کرښې سره نښلي. همدا راز د افغانستان د صادراتي توکو ډېره برخه له همدې لارې پاکستان، هند او د نړۍ نورو هېوادونو ته لار مومي او همدارنګه له يادو هېوادونو څخه وارد شوي مالونه هم له همدې لارې هېواد ته دننه کېږي. دغه مهم سړک، چې په ختيځ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل له ننگرهار او لغمان ولایتونو سره نښلوي او د هېواد له مهمو سوداګریزو لویولارو څخه ګڼل کېږي، اوږدوالی یې ۲۳۲ کیلومتره او سور یې ۱۰ متره او د قیر شوي برخې سور یې ۷ مترو ته رسېږي او دغه سړک ته څېرمه د هېواد څو مهم بندونه، لکه سروبي، نغلو، ماهیپر او درونته هم جوړ شوي دي.

د هندوکش او د بابا د غرونو سلسله، چې په ښکاره بڼه افغانستان پر دوو شمالي او سویلي برخو وېشي او د هېواد د دغو دوو سیمو ترمنځ، تر ټولو لوی طبیعي خنډ ګڼل کېږي، نو د هغه اقتصادي ارزښت له مخې، چې د هېواد شمالي ولایتونه یې لري، دا اړتیا رامنځ ته کېږي، چې د تولید دغه عمده سیمې باید له کابل ښار سره ونښلول شي.

له همدې امله، د شمالي سیمو لویې لارې تر ټولو ړومبۍ په پام کې نیول شوې او دغې موخې ته د رسېدو لپاره باید د هندوکش له غرونو واوړو؛ نو له دې کبله د سالنګونو ستره پروژه تر اجرا لاندې ونیول شوه. باید یادونه وکړوچې تر دې مخکې د کابل او د هېواد د شمالي او سویلي ولایتونو ترمنځ ارتباطي لاره له شیبر کوتل او شکاري درې له لارې تیره شوې وه. لکه څرنګه چې دغې لارې له یوې خوا ډېر لوی واټن جوړاوه او له بلې خوا یې د فوټوګرافۍ له پلوه زیاتې بودیجې ته اړتیا لرله نو په دې خاطر، د ۲۰۰ کیلومتره په واټن د سالنګ د لویې لارې جوړېدل، د هېواد د شمالي سیمو لاره لنډه کړه.

دغه لویه لاره، د دې ترڅنګ، چې د هېواد اباد ولایتونه له مرکز او نورو سویلي، ختیځ او سویل لویدیځو ولایتونو سره نښلوي. د افغانستان – ازبکستان او بالاخره روسیې ترمنځ هم د ترانزیټ او سوداګرۍ تر ټولو مهمه لاره ګڼل کېږي. د دغې پروژې د جوړولو چارې د لویدیځ هندوکش د شمال او سویل له برخې یعنې د دوشي او جبل السراج له سیمې څخه په ۱۳۳۷ کال کې پیل او په ۱۳۴۳ کال کې د پخواني شوروي اتحاد په تخنیکي مرسته بشپړه شوه. د دغې لویې لارې په مسیر کې د سالنګ تونل د ۲۶۷۶ مترو په اوږدوالي او د اوو مترو په سور جوړ شو، چې د قیر او کانکریټ شوي برخې سور یې شپږ متره او د تونل لوړوالی یې اوه متره ته رسېږي.

**د افغانستان لویدیځه لویه لاره:** د کابل – کندهار لویه لاره د هېواد له لومړۍ درجې ټرانزیټي سړکونو څخه شمېرل کېږي. دغه سړک، د هېواد مهم ولایتونه له یو بل او له مرکز سره نښلوي. د یاد سړک د کار په پای ته رسېدو سره، له یوې خوا د سپین بولدک او کندهار ترمنځ او له بلې خوا د هېواد د نورو عمده سیمو لکه غزني، مقر او قلات ترمنځ ارتباط ټینګ شو. د دغه سړک د سروې چارې په ۱۳۳۶ کال کې پیل او په ۱۳۴۰ کال کې یې د جوړولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار پای ته ورسیده. د کابل – کندهار د لویې لارې اوږدوالی ۴۸۳ کیلومتره دی، چې د ټول کال په بهیر کې د ګټې اخیستنې وړ ده،ځکه د دغه سړک په مسیر کې، لوړې سیمې نه شته او کوتلونه نه لري؛ دغه سړک د امریکا د متحده ایالاتونو په مرسته او د هغوی د متخصصینو په وسیله جوړ شو. د کندهار او سپین بولدک سړک چې ۱۰۱کیلو متر اوږدوالي لري، د اساسي او پاخه سړکونو له جملې څخه دي، چې د کندهار او کویټې ترمنځ تر ټولو مهمه ټرانزیټي لاره جوړوي.

**د کندهار– هرات او تورغنډۍ سړک:** دغه سړک د افغانستان له تر ټولو عصري او مډرنو سړکونو څخه ګڼل کېږي، چې په کانکریټي ډول جوړ شوی دی. د دغه سړک اوږدوالی له کندهاره تر تورغنډۍ پورې ۶۷۴ کیلومترو ته رسېږي، چې د کانکریټي برخې سور یې اوه متره دی.

د یاد سړک مقاومت د دوبي د تودوخې په وړاندې هم زیات دي، له همدې امله ده، چې په دوبي کې د هوا د تودوخې له امله هم نه زیانمنېږي . د اسلام قلعې - هرات سړک تر هغه وروسته، چې د کابل – کندهار او هرات سړک جوړ شو، کار پرې پیل او بشپړ شو.

د هرات – اسلام قلعې سړک هم یو اړین امر ګڼل کېږي، چې د هرات – مشهد ترمنځ تر ټولو مهمه ترانزیټي لاره جوړوي.

**د افغانستان عمده سوداګریز بندرونه:** لکه څرنګه چې ټولو ته ښکاره ده، افغانستان د خپل جغرافیایي او تاریخي موقعیت له مخې، د سویلي اسیا او منځنۍ اسیا ترمنځ د ترانزیټ او سوداګریزو توکو لپاره تر ټولو مهم معبر او ارتباطي پل ګڼل کېږي، چې په هېواد کې هر بندر د خپل موقعیت له مخې د پام وړ ارزښت لري،چې د صادراتي، وارداتي او ترانزیټي مالونو او توکو په لېږدولو کې محوري او مهمه ونډه لري،نوپه دې اساس د هېواد بندرونه په لاندې کټګوریو باندې وېشل کېږي:

۱- **هغه بندورنه چې فعال او د تاسیساتو او تجهیزاتو لرونکي دي:** د حیرتان بندر، شیرخان بندر او تورغونډۍ بندر زموږ د هېواد له پخوانیو بندرونو څخه دي؛ چې د هېواد د صادراتو او وارداتو د اړتیاوو په پام کې نیولو سره پخوا جوړ شوي دي.

د وخت په تېرېدو سره د هېواد د سوداګرۍ کچه لکه صادرات، واردات او ترانزیټ وده کړي او د هېواد له قلمرو څخه د سویلي اسیا او منځنۍ اسیا د هېوادونو ترمنځ د ارتباطي پل په توګه د ګټې اخیستنې په اړه د دولت (د سوداګرۍ او صنایعو وزارت) نوي تګلارې د دې غوښتنه کوي، څو یاد بندرونه مډرن او عصري شي؛ هم د تاسیساتو له پلوه لکه انګړونه، پرانیستي او تړلي سکلاټونه، دچاوېدونکو او خطرناکو موادو لپاره میدانونه، د صادراتي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وارداتي او ترانزيټي مالونو د تشو او ډکو کانتينرونو د ساتنې په موخه ميدانونه، پورتونه، سړکونه، د اداري دفترونو لپاره ودانۍ، د کارکوونکو لپاره د هستوګنې کورونه، د سړو خونو ودانول، د سوداګريزو ازادو زونونو جوړول، د ښارګوټو ودانول، او د نورو تجهيزاتو لکه د بندرونو د ترانسپورټي نقليه وسايلو لپاره د کرنونو او فورکلفيتونو برابرول، د I C I د برقي سيستمونو جوړول، اطفايې، د وسپنې پټلۍ د سړکونو بيارغونه او تمديد، د اکسري ماشينونه او د مالونو د تللو لپاره د لوړ تناژ تلو نصبول، د وارداتي، صادراتي او ترانزيټي مالونو د چټکې لېږدونې په موخه د همغږو کړنلارو ترلاس لاندې نيول او د سيمه ييزو او نړيوالو منل شويو نورمونو له مخې او د سوداګريزو اړتياوو په رڼا کې د نورو اسانتياوو برابرول.

۱. **هغه فعال بندرونه، چې د لومړنيو تاسيساتو او تجهيزاتو لرونکي دي:** د اقچې او آی خانم بندرونه دي، چې د سوداګرۍ او صنايعو وزارت پورې تړلي دي، له ترټولو لومړنيو امکاناتو او بندري خدمتونو څخه برخمن دي او د هېواد د فعالو بندرونو په ډله کې شمېرل کېږي.

۲. **هغه بندرونه چې نوي تاسيس شوي دي:**

الف- د خوست د غلام خان بندر: دغه بندر به د حيرتان بندر د پانګې په مرسته، د ۴۴ جريبو ځمکو په ساحه کې د ټولو بندري تاسيساتو، تجهيزاتو او خدمتونو په لرلو سره د پور په ډول جوړ شي.

ب- **د تورخم بندر:** دغه بندربه هم د حيرتان بندر د عوايدو په مرسته، د ۶۴ جريبه ځمکي په ساحه کې، د ټولو وسايلو او مډرنو تجهيزاتو په لرلو سره د پور په ډول جوړشي.

ج- **د سپين بولدک بندر:** دغه بندر د تورغونډۍ بندر له عوايدو څخه د ټولو اړينو تاسيساتو، تجهيزاتو او وسايلو په لرلو سره د پور په ډول جوړېږي.

د- **د زرنج بندر:** دغه بندر هم د تورغونډۍ بندر له عوايدو څخه د ټولو اړينو تاسيساتو، تجهيزاتو او وسايلو په لرلو سره د ۱۰۰ جريبه ځمکي په ساحه کې د پور په ډول جوړېږي.

ر- **د اسلام قلعې بندر:** دغه بندر هم د تورغونډۍ بندر له عوايدو څخه د ټولو اړينو تاسيساتو، تجهيزاتو، وسايلو او بندري خدمتونو په لرلو سره د سلو جريبو ځمکې په ساحه کې د پور په ډول ودانېږي.

بايد څرګنده کړو، چې د هېواد سوداګريزو اړتياوو او د هېواد له قلمرو څخه د دوو اسيايي برخو ترمنځ د ارتباطي پل په توګه ګټه اخيستنه، د پخوانيو بندرونو د نوي کولو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پراختیا ورکولو، چې له ټولو مدرنو تجهیزاتو او نویو تاسیساتو څخه برخمن وي، اړتیا رامنځ ته کوي. همدارنګه د نړیوالو منل شویو نورمونو پر بنسټ د نویو کړنلارو د جوړولو په برخه کې یو دقیق او ژور پلان اواټکل (بر آورد) اړتیا هم رادمخه کوي.

په دې توګه له منل شویو معیارونو او ستندردونو سره سم، د اړتیاوو دقیق اټکل وشي؛ دغه اټکلونه او برآوردونه، چې د ګاونډیو او نړیوالو هېوادونو له تجربو څخه په ګټه اخیستنې سره ترسره کېږي، کولی شي زموږ د هېواد د بندرونو حالت تر پخوا مډرنیز او نوي کړي، څو په دې توګه په هېواد کې د سوداګرۍ یعنې صادراتو، وارداتو او ټرانزیټ وضعیت له نړیوالو نورمونو او سټنډرډونو سره سم پر مخ لاړ شي.

**د پنځم څپرکي لنډیز (په افغانستان کې سوداګري او مواصلات)**

کله چې اضافي څیزونه او خدمتونه تبادلې ته وراندې کېږي، نو د سوداګرۍ موضوع رامنځ ته کېږي. انسانانو له ډېرو پخوانیو زمانو را په دې خوا د خپلو اړتیاوو د پوره کولو په موخه، په سیمه کې د شیانو او خدمتونو په راکړه ورکړه لاس پوري کاوه. د افغانستان خلک چې په تیرو زمانو کې د اریایانو په نامه یادیدل، په دې سیمه کې د خپل جغرافیایي موقعیت له مخې، چې د هغه مهال د تمدن په څلور لاري کې  واقع وه ، د خپلو توکو په راکړه ورکړه کې یې پوره ونډه اخیسته.

یعنې هغه مهال، دغه خاوره په داسې یو جغرافیایې موقعیت کې واقع وه، چې ختیځ پلو ته یې د هند او چین او لویدیځ لوري ته یې د ایران، یونان او روم تمدنونه واقع وه.

دغه مهال افغانستان د خپل ستراټیژیک او ټرانزیټي موقعیت له مخې، ډېر اهمیت درلود او په افغانستان کې سوداګرۍ هم په دغه دوره کې زیاته پراختیا موندلې وه. چې د سوداګرۍ ډېره برخه د همدغو لارو له څخه بنه نیوله. په افغانستان کې ډېری تولید شوي مالوچ، غوړحبوبات، د قره قل پوستکي، وړۍ، طبیعي ګاز، سمنټ، میوې او لاجورد ګاونډیو هېوادونو ته صادرېدل.

د افغانستان د بهرنۍ سوداګرۍ په برخه کې باید یادونه وکړو، چې بهرنۍ سوداګري په کې ازاده ده.

**د هند د نیمې وچې حوزه:** د افغانستان د ترانسپورټي کرښو په تړاو باید یادونه وکړو، چې د ترانسپورټي مواصلاتي منظم سیستم د یو هېواد د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا بنسټ جوړوي، په هېواد کې د ټولنیز او اقتصادي یووالي او د اړتیا وړ توکو او اطلاعاتو د لیږدولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په برخه کې د اسانتیاوو د برابرولو لامل ګرځي. په هغه وخت کې چې په یو هېوادکې دغه اقتصادي بنسټ، په سمه او منظمه توګه جوړ او ګټې اخیستنې ته وړاندې شي، د توکو مولدینو او ان کروندګر او بزګرچې په لیرې پرتو سیمو کې اوسېږي، کولی شي، خپل محصولات ډېر ژر او د خپلو محصولاتو له ضایع کېدو پرته د خرڅلاو بازارونو ته وړاندې کړي او زیات عاید ترلاسه کړي. د هغو بدلونونو په پام کې نیولو سره، چې په وروستیو کلونو کې زموږ په هېواد کې د خلکو د ژوندانه په ټولو برخو کې رامنځ ته شوي، ورسره جوخت مواصلاتي نوي کرښې هم پراخې شوي، چې دا لړۍ کولی شي، په هېواد کې سیاسي، اقتصادي او فرهنګي بنسټ جوړ کړي.

په دي اساس د هېواد په ټولو سیمو کې د مواصلاتي کرښو جوړول او د هغوی پرمختیا، یو اړین امر ګڼل کېږي، څو په دې توګه موږ وکولی شو، د هېواد اقتصاد ته وده او د خپلو خلکو د ژوندانه کچه لوړه کړو.

## د پنځم څپرکي پوښتنې

۱. سوداګري له کوم مهاله په افغانستان کې پیل شوې بیان یې کړئ؟
۲. په سیمه کې د سوداګرۍ لپاره د افغانستان جغرافیایې موقعیت څه ارزښت لري، څرګند یې کړئ؟
۳. د افغانستان صادرات تشریح کړئ؟
۴. صادرات او واردات د یو هېواد په اقتصاد کې څه رول لري، بیان یې کړئ؟
۵. د افغانستان د مواصلاتي کرښو په اړه خپل معلومات بیان کړئ؟
۶. د هېواد د اقتصاد په وده کې د مواصلاتي کرښو د جوړولو ارزښت بیان کړئ؟
۷. د یو هېواد اقتصادي بنسټ څه شی جوړوي او ولې یې جوړوي؟ واضح یې کړئ؟
۸. د یو هېواد په اقتصاد کې سوداګریز بندرونه کوم رول لري، بیان یې کړئ؟
۹. د افغانستان د سوداګریزو بندرونو نومونه واخلئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم څپرکی

## د نړۍ مهم بندرونه

**د زده کړې موخې:** ددغه څپرکي په پای کې له زده کوونکو ته کیږي چې:

- د نړیوالو سوداګریزو بندرونو په اړه کافي معلومات تر لاسه کوي.
- د نړیوالو اقتصادي تړونونو په اړه معلومات ترلاسه کوی.

### د نړۍ مهم بندورونه

هغه مهم سوداګریز بندرونه، چې د اروپا په لویه وچه کې موقعیت لري، په لاندې توګه بیانیږي:

د جبل الطارق بندر: چې د جبل الطارق پر ابنا هم یادیږي، د هسپانیې هېواد پورې مربوط دی. هغه ټولې بېړۍ، چې له اروپا څخه د اسیا پر لوري حرکت کوي، له دغه بندره تیریږي، د دغه هېواد د عایداتو ۳/۱ برخه، د دغه بندر له لارې تامینیږي. همدارنګه د اروپا په لویه وچه کې د داینوب په نامه بل بندر د مقدونیې سویل ته د بوسنیا هېواد پورې تړاو لري او د مانچستر بندر د انګلستان هېواد پورې تړلی دی؛ یاد بندرونه د یادو هېوادونو لپاره د عایداتو ښې سرچینې دي. په امریکا کې د مکسیکو خلیج د مکسیکو هېواد لپاره د عایداتو د پام وړ سرچینه ده، چې سویلي امریکا له شمالي امریکا سره نښلوي. د زهوردن بندر چې په ارجنټاین هېواد پورې تړلی دی او همدارنګه په مرکزي امریکا کې د پانامې کانال د یادونې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړ دی. باید ووایو، هغه ټولې بیړۍ، چې له ختیځه لویدیځ او له لویدیځه ختیځ لوري ته حرکت کوي، له همدغه بندر څخه تیرېږي او یاد هېواد ته د پام وړ عاید ګټي.

**نړیوال اقتصادي تړونونه:**

د نړۍ له ترټولو مهمو اقتصادي تړونونو څخه یو هم د نړۍ صنعتي هېوادونه دي. د نړۍ صنعتي هېوادونه له هغو هېوادونو څخه عبارت دي، چې د تولیداتو او صنعت د کچې له پلوه، د ودې او پرمختګ وروستیو پوړونو ته رسېدلي وي. زیاتره صنعتي هېوادونه د ډیموکراسۍ سیستم لرونکي دي او له یو بل سره پیچلي اقتصادي او سیاسي تړونونه لري. دغه تړونونه د دوی ترمنځ د تلپاتې سولې لپاره لاره اواره کړې او د دوی د اقتصادي ودې لپاره زمینې برابروي. د ۱۹۵۰ لسیزې په سر کې، د صنعتي هېوادونو په اقتصاد کې د خدمتونو د وړاندې کولو څانګه ورځ تر بلې وده کړې ده.

صنعتي هېوادونه د نړۍ ډېره برخه په غیږ کې نیسي،د امریکا متحده ایالات، د اروپا د اتحادیې غړي هېوادونه، جاپان، کاناډا او استرالیا د نړۍ لوی صنعتي هېوادونه ګڼل کېږي. د نړۍ صنعتي هېوادونه 8G دي، چې د نړۍ ۶۵ سلنه اقتصاد په خپل واک کې لري.

دغه هېوادونه له کاناډا، امریکا، جرمني، فرانسه، انګلستان، ایټالیا، جاپان او د روسیې له فدراتیف څخه عبارت دي. هغه څه چې  د دغې ټولنې په کړنلاره کې ترې یادونه شوې، ټول پرې عمل کوي.

د دغو هېوادونو مشران په کال کې یو ځلې سره راټولېږي او په خپلو منځو کې د همغږیو د رامنځ ته کولو او لویو پرېکړو په تړاو خبرې اترې کوي. په هغو شرایطو او حالاتو کې، چې اړینه وبلل شي، دغه ناسته په کال کې څو ځله هم جوړېږي.

که د دغې ټولنې تاریخ ته یوه کتنه وکړو، لېدل کېږي چې په۱۹۷۰  لسیزه کې، چې کله امریکا د نفتو له ناورین سره مخ شوه، په هغه کال کې امریکا له لویدیځو هېوادونو او جاپان سره یوه ناسته جوړه کړه، چې په هغه کې د علاقې وړ موضوعاتو په تړاو خبرې اترې وشوې. په ۱۹۷۲ کال کې فرانسې د لویدیځو  شپږو سترو صنعتي هېوادونو مشران راوبلل، چې په پایله کې د شپږ ډلې په نامه یوه ټولنه رامنځ ته شوه. وروسته په ۱۹۷۶ مېلادي کا ل په هغې ناسته کې چې د کاناډا په مرکز اوتاوا کې جوړه شوې وه، کاناډا هم د دغې ټولنې غړیتوب ترلاسه کړ او دغه ډله یې د اوه په نامه ونوموله. د شوروي اتحاد تر ړنګېدو وروسته، دغه هېواد هم له دغې ټولنې سره یوځای شو، چې بیا د 8G په نامه ونومول شوه او تر اوسه پورې فعالیت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغې ټولنې په ناستو کې  د اروپا د ټولنې له خوا دوه مقامه ګډون کوي. د اروپايي ټولنې رييس  د اتو ډلو په سياسي خبرو اترو کې ګډون نه کوي.

د امريکا د سياسي او پوځي ځواک په پام کې نيولو سره، دغه هېواد په ياده ډله کې د سر غړي په توګه انګېرل کېده، که څه هم دغه موقعيت د اتو ډلو په موازينو او مناسباتو کې په رسمي توګه نه دی اعلان شوی.

د اتو ډلو بنسټيزه موخه د اقتصاد د نړيوالتوب په اړه له سياست څخه عبارت ده. همدارنګه په وروستيو کلونو کې دغه ډله د ځينو ناروغيو لکه د ايډز پر وړاندې د مبارزې لپاره هم يو لړ پلانونه طرحه او تطبيق کړي. همدا راز د بيوزلو هېوادونو له پرمختيا او ودې سره د مرستې لپاره او د نړۍ د پورونو د راکمولو په موخه هم خپلې طرحې  وړاندې کړي دي.

**د نفتو د صادرونکو هېوادونو سازمان(اوپک):** وينزويلا لومړی هېواد و، چې په ۱۳۳۹ کال کې له ايران، عراق، کويت او سعودي  عربستان سره د اړيکو په پاللو او د دغه وړانديز په وړاندې کولو سره، چې دوی بايد له يو بل سره د نظر تبادله ولري او د نږدې او دوستانه اړيکو او په خپلو منځو کې د يووالي د رامنځته کولو  لپاره، نوي لارې ولټوي، د نفتو د صادرونکو هېوادونو د سازمان (اوپک) د رامنځ ته کولو په لاره کې يې ګامونه واخيستل.

د ۱۹۶۰ کال په سپټمبر کې  د عراق دولت،  ايران، کويټ، سعودي عربستان او وينزويلا هېوادونه د يوې ناستې لپاره بغداد ته راوبلل، څو د متبوعو هېوادونو له خوا د اومو توليد شويو موادو د بيې د راټيټولو په تړاو خبرې اترې وکړي، د دغو خبرو اترو په پايله کې د غړو هېوادونو پر نفتو د ناظرو سياستونو د يو کولو او همغږۍ په موخه، اوپک(opic) سازمان رامنځ ته شو. ايران، عراق، کويټ، سعودي عربستان او وينزويلا د دغه سازمان له لومړنيو غړو څخه وو. دغه سازمان د ۱۹۶۰-۱۹۷۰ و (۱۹۶۲) کلونو په بهير کې جوړ شو، او په ۱۹۶۹ کې الجزاير او په ۱۹۷۱ کې نايجريا هېوادونه هم ورسره يو ځای شول. د اوپک يوولس اوسني  غړي، د نړۍ نږدې ۳۰٪ سلنه نفت توليدوي او د نړۍ دربېيمې برخې يعنې ۶۵٪ نفتي زېرمې په خپل واک کې لري.

د دغه سازمان بنسټيزه موخه، لکه څرنګه چې په اساسنامه کې يې هم بيان شوي، په لاندې توګه ده: د غړو هېوادونو د نفتو په تړاو دسياستونو همغږي کول او يو کول؛ د غړو هېوادونو د فردي  او ټوليزې ګټې د تامين لپاره د ښو لارو تضمينول، د مضرو او نااړينو نباتاتو د له منځه وړلو په موخه، په نړيوالو بازارونو کې د نفتو د بيې د ثبات د تضمينولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره د کړنلارو طرحه؛ د نفتو توليدونکو هېوادونو ته ځانګړې پاملرنه او له هغوی څخه ملاتړ او د توليدونکو هېوادونو لپاره د ثابتو عوايدو د برابرولو اړتيا ته ځانګړې پاملرنه. په داسې حال کې چې د اوپک سازمان د زياترو غړو هېوادونو رسمي ژبه عربي ده، خو د دغه سازمان رسمي ژبه انګليسي ټاکل شوې ده. بايد ووايو چې د دغو هېوادونو له جملې څخه د اوو يې رسمي ژبه عربي او يوازې د يوه، چې نايجريا ده، انګليسي ده.

په اوپک کې د غړيتوب حق په کال کې پنځه ميليون ډالره دی او يوازې د نفتو صادرونکي هېوادونه کولی شي، د دغه سازمان غړيتوب ترلاسه کړي.

**د شانګهای همکاريو د هېوادونو سازمان Organization Woperation Shanghai:**

دا د هيوادونو تر منځ يو سازمان دی، چې د امنيتي غيرجانبه همکاريو په موخه په ۲۰۰۱ کال کې د روسيې، قزاقستان، چين، ازبکستان او تاجکستان دولتونو له خوا تشکيل شو؛ د شانګهای د همکاريو سازمان په حقيقت کې د شانګهای د سازمان نوی ترکيب (۵) دی، چې په ۱۹۹۴ کال کې رامنځ ته شوی وو، خو نوم يې د ازبکستان تر غړيتوب وروسته د شانګهای د همکاريو پر سازمان بدل شو.

د اصلي غړو ترڅنګ په ۲۰۰۴ کا ل کې لومړی مغلستان او يو کال وروسته، ايران، افغانستان، پاکستان او هند د ناظرو غړو په توګه له دغه سازمان سره يو ځای شول.

په سيمه کې د دغه سازمان رول د رامنځ ته کېدو راهيسې مخ پر زياتېدو دی. دغه سازمان د شمالي اتلانتيک يا ناټو سازمان پرخلاف لا يوه څو اړخيزه معاهده نه ګڼل کېږي. د شانګهای د همکاريو سازمان د ايوپوليتيک او منځنۍ اسيا په سيمه کې له سترو مطرحو ځواکونو څخه تشکيل شوي. د دغه سازمان د رامنځ ته کېدو لومړۍ موخه، د چين او پخواني شوروي اتحاد د پولې نا پوځي کول وو.

د ۵ شانګهای ډله، د ۱۹۹۶ کال د اپريل په ۲۶ مه په سرحدي سيمو کې د پوځي باور د ژورتيا په موخه د قزاقستان، چين، قرغيزستان، روسيه او تاجکستان د هماغه مهال مشرانو له خوا د يو تړون په لاسليکولو سره رامنځ ته شوه. دغه هېوادونه د ۱۹۹۷ کال د اپريل په ۲۴ مه د مسکو په سرحدي سيمو کې د پوځي ځواکونو د راکمولو په موخه د بيا لپاره يو تړون لاسليک کړل.

د دغې ډلې ناسته په ۲۰۰۱ کال کې د چين په شانګهاي ښار کې جوړه شوه، په دې ناسته کې، لومړی د ازبکستان هېواد د نوي غړي په توګه ومنل شو، چې په عملي توګه د دغه ډلې نوم پر ۶ شانګهای باندې بدل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغه سازمان بله سرمشریزه په ۲۰۰۲ کال کې د روسیې په سنت پټرزبورګ ښار کې جوړه شوه، چې په هغې کې غړو هېوادونو د سازمان د موخو، جوړښت او همکاریو په اساسنامه باندې خبرې اترې وکړې. تر دغه تړونلیک وروسته د یاد سازمان موجودیت د نړیوالو حقوقو له پلوه په عملي توګه رسمیت پیدا کړ.

**د شانګهای هېوادونو د سازمان موخې:**

د امنیتي مسئلو په تړاو همکاري: په منځنۍ اسیا کې امنیتي مسئلې په ځانګړې توګه د تروریزم او فرد پالنې پورې منحصر د بیلتون غوښتونکو خوځښتونو له منځه وړل، په تولیزه توګه د دغه سازمان له اصلي موخو څخه ګڼل کېږي. د شانګهای سازمان د تروریزم پر وړاندې سیمه ییز جوړښت، په ۲۰۰۴ کال کې د ازبکستان په تاشکند کې د یاد سازمان په غونډه کې چمتو او تصویب شو. دغې سازمان په ۲۰۰۶ کال کې اعلان وکړ، چې د سیمه ییز تړون له مخې د غړو هېوادونو د پولو په اوږدو کې به د نشه یي توکو د قاچاق پر وړاندې مبارزه وکړي.

**اقتصادي همکاري:** د دغه سازمان د غړو هېوادونو د اقتصادي همکاریو د تړونلیک چوکاټ، د لومړي ځل لپاره د یاد سازمان د ۲۰۰۳ کال د سپتمبر د ۲ نېټې په ناسته کې چمتو او لاسلیک شو. په دغه ناسته کې د چین هېواد ولسمشر وړاندېز وکړ، چې د سوداګریزې ازادې سیمې د رامنځ ته کېدو په موخه باید د سازمان له خوا یو اوږد مهاله پلان جوړ شي. نوموړي په دې وړاندېز کې، د غړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ د کچې د زیاتوالي لپاره د څو لنډمهالو همکاریو د چوکاټ د جوړېدو خبره هم کړې وه. تر دغه وړاندېز یو کال وروسته د ۲۰۰۴ کا ل د سپتمبر په ۲۳ مه، د غړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ د کچې د زیاتوالي په موخه د سلو مشخصو برنامو درلودونکی یو تړون لاسلیک شو.

د شانګهای د همکاریو سازمان ناظر غړي هېوادونه هم، نه یوازې د نړۍ ستر اقتصادي، پوځي او فضایي ځواک له ځانه سره لري، بلکې په نړۍ کې د انرژۍ ستر تولیدونکي او مصرفوونکي هېوادونه هم ګڼل کېږي. د دغه سازمان د اصلي او ناظرو غړو هېوادونو مساحت، له ۲۵ میلیونه کیلومتره مربع څخه زیات دی، یعنې د ځمکې د کرې د وچې سطحې یو پرځلورمه برخه په برکې نیسي.

**د ایکو د اقتصادي همکاریو سازمان:** د ایکو د اقتصادي همکاریو سازمان تاریخچه ۱۹۵۰ لسیزې ته راګرځي. په ۱۹۵۵ کې د بغداد تړون، چې لاسلیکوونکو یې د ترکیې، پاکستان، ایران، عراق ، امریکا او انګلستان هېوادوونه و، رامنځ ته شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغه تړون بنسټیزه موخه په منځني ختیځ کې د پخواني شوروي اتحاد له احتمالي پرمختګونو څخه مخنیوی وه.

درې کاله وروسته عراق له شوروي اتحاد څخه د پلویتوب له امله، له دغه سازمان څخه ووت. تر دې وروسته دغه تړون د سینټو cento د مرکزي تړون د سازمان تر نامه لاندې خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړ. سنټو په ټولیزه توګه پوځي موخې تعقیبولې؛ نو ځکه درې اصلي غړي یې یعنې: ایران، پاکستان او ترکیې د پرمختیا د سیمه ییزو همکاریو تر نامه لاندې یوه نوې ټولنه رامنځ ته کړه. دغه تړون په داسې حال کې رامنځ ته شو، چې د نړۍ د بېلابېلو سیمو د سولې او امن د ټینګښت په موخه، د سیمه ییزو سازمانونو جوړول، ځانګړی اهمیت درلود.

د ۱۹۶۴ کال د مارچ په ۲۲ مه (۳ د وري ۱۳۴۳) په ملګرو ملتونو پورې تړلې د پرمختیا او سوداګرۍ کنفرانس تر جوړېدو او د مخ پر ودوه هېوادونو د پرمختیا او ودانولو د لسیزې په نامه د ۱۹۶۰ کال د لسیزې تر ټاکلو وروسته، د صنایعو او سوداګرۍ د یووالي او ودې په برخه کې سیمه ییزې همکارۍ چټکې شوې. د اقتصادي همکاریو د سازمان ټولیزه موخه، سیمه ییزه رغونه، د سوداګریو ازادول، د سوداګریزو تړونونو له لارې سوداګرۍ، د ګډو اقتصادي پروژو پلې کول، د دریو غړو هېوادونو ترمنځ د ارتباطي لارو (ځمکني، هوایي او سمندري) ښه والی او ګډه پانګونه په ځانګړې توګه د ترانسپورټ په برخه کې وه.

د ۱۹۸۰ کال په نیمایي کې د سیمه ییز عمران د همکاریو سازمان، د (اقتصادي همکاریو سازمان) نوم بېرته ژوندی او خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړ؛ ایکو په ۱۹۹۰ کال کې د اسلام اباد تر کنفرانس وروسته، د بیا لپاره ژوندی او په ۱۹۹۲ (د ۱۳۷۰ د غویي۲۷ او ۲۸مه) په تهران کې د ایکو تر سرمشریزې غونډې وروسته د سیمې اوه نور هېوادونه لکه افغانستان، آذربایجان، قزاقستان، ترکمنستان، تاجکستان، قرغیزستان او ازبکستان، چې مخکې د ۱۳۷۰د غویي په ۱۶او ۱۷ د ترکیې د انقرې په کنفرانس کې د غړیتوب لپاره غوښتنې تصویب شوي وې، د ایکو غړي شول. په دې توګه د ایکو د غړو هېوادونو شمېر ۱۰ ته زیات شو، چې له ۳۰۰ میلیونو زیاتې سکې په غېږ کې نیسي.

**د ایکو جغرافیایي سیاسي اهمیت:** د ایکو د غړو هېوادونو ځانګړي موقعیت او تاریخي یووالی له پخوا د غړو هېوادونو د مشرانو او د نړیوالو ریاستونو د مدیرانو د پاملرنې وړ وه. د ایران، پاکستان او ترکیې او په وروستیو کې د ماورالنهر او د خزر سمندرګي د ختیځو هېوادونو او همدارنګه د شرم سمندرګي د لویدیځ د نویو خپلواک شویو هېوادونو یووالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو تاریخي واقعیت دی، چې په هېڅ ډول ترې سترګې نه شي پټیدای. له بلې خوا د تیرو اویاوو کلونو په بهیر کې د پخواني شوروي اتحاد له خوا رامنځ شوي مصنوعي خنډونه نه دي توانېدلي،چې د هغه په بالقوه ارزښت او اهمیت او د سیمې او نړۍ پر اقتصاد باندې په اغیزو کې کموالی راولي. د ایکو زیاتره غړي هېوادونه، د وریښمو د تاریخي او څو زره کلنې لارې په اوږدو کې واقع دي. له همدې امله، دوی کولی شي، داسې یوه لاره او لوری رامنځ ته کړي، چې په نړۍ کې د سوداګریزو مبادلاتو لپاره، تر هغه بله ستراتیژیکه لاره او با ارزښته لوری و نه موندل شي.

د ایکو جوړښت: د ایران د دولت په وړاندېز او له دریو ،ایران، ترکیې او پاکستان هېوادونود بهرنیو چارو له وزیرانو څخه جوړ د ایکو د ۱۳۶۳ کال د غوایی د ۷ او ۹ نېټې د ناستو په هوکړه، چې په تهران کې جوړې شوې وې، یوه پریکړه لیک په تصویب ورسیده، چې لاندې ټکي یې په بر کې نیول:

۱- د سیمه ییز عمران سازمان، چې د ایران تر اسلامي انقلاب مخکې فعال و، د اقتصادي همکاریو د سازمان په نامه بېرته په کار پیل وکړ.

۲- عالي شورا د سازمان د پلانونو او سیاستونو د ټاکلو عالی مرجع په توګه پېژندل کېږي. د دغې شورا غړي د غړو هېوادونو له بهرنیو چارو وزیرانو څخه ټاکل کېږي او په کا ل کې یو او اکثره دوه ځلې ناستې کوي. تر عالي شورا وروسته، د غړو هېوادونو د پلان او کورنیو چارو وزارتونو له مرستیالانو څخه جوړ دپلان جوړونې شورا ده، چې دنده یې د ایکو عالي شورا ته د وړاندېز په موخه، د ایکو د پلانونو او سیاستونو تدوین او طرحه ده.

۳- د ایکو د تشکیلاتي هرم په چوکاټ کې څلور کمېټې شتون لري، چې د ایکو فعالیتونو طرحه، چمتو او لارښوونه کوي. دغه څلور کمېټې عبارت دي له:

**الف:** د اقتصادي او بنسټیزو همکاریو کمېټه.

**ب:** د ټکنالوژیو او صنعتي همکاریو کمېټه.

**ج:** د علمي او ښوونیزو همکاریو کمېټه.

**د:** د کرنیزو همکاریو کمېټه. د طبیعت له اقتضا سره سم نور فعالیتونه، د کمېټو په کوچنیو څانګو کې تنظمنېږي.

په پای کې سازمان تشکیلات، شورای پلان جوړونې کمیټې اود عمومي منشي په ګډون د اوو نورو لکه د ضایعو، سوداګرۍ، ټرانسپورټ، د نفتو او وریښمو اطلاعاتو او د فني همکاریوله کمیټو څخه جوړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د شپږم ځپرکي لنډيز (د نړۍ اقتصادي جغرافيه)**

د نړۍ د اقتصادي جغرافيې په برخه کې، لومړۍ بايد د نړۍ د هېوادونو جغرافيايي، ټولنيز او سياسي موقعيتونو ته پاملرنه وشي، خو موږ دغه ټولې موضوعګانې ، د وخت د کمښت له امله،نه شوکولی په خپل درسي پروګرام کې تنظيم کړو. يوازې د نړۍ د سوداګريزو بندرونو په تړاو، لنډ معلومات وړاندې کوو.

په ننني نړۍ کې ځمکني او سمندري سوداګريز بندرونه د هېوادونو د اقتصاد په وده کې تر ټولو زيات ارزښت لري. دغه بندرونه په هره لويه وچه کې شتون لري، خو په اسيا کې يې شمېر زيات دي، موږ کولی شو، په لنډه توګه ترې يادونه وکړو:

د پاکستان د کراچۍ سوداګرير بندر، په هندوستان کې د بمبيي سوداګريز بندر، په اندونيزيا کې د سوماترا سوداګريز بندر، په تايلنډ کې د بنکاک سوداګريز بندر، د لاوس سوداګريز بندر، په فلپين کې د مانيلا سوداګريز بندر او په ايران کې د بندر عباس سوداګريز بندر. دغه بندرونه کولی شي، د وارداتو او صادراتو له پلوه هره ورځ د يادو هېوادونو په عايداتو کې زياته اندازه خالص عايد ورزيات کړي.

د نړۍ د اقتصادي جغرافيې په دوهمه برخه کې، کولی شو، د هغو اقتصادي تړونونو د کړنو له بنې ځخه يادونه وکړو، چې د نړۍ په بېلابېلو سيمو کې رامنځ ته شوي دي. بايد ووايو، چې تر دويمې نړيوالې جګړې وروسته، د هېوادونو ترمنځ د يووالي د ودې او ګډو موخو ته د رسېدو په موخه د نړۍ په بېلابېلو برخو کې يو زيات شمېر اقتصادي او پوځي تړونونه رامنځ ته شول. موږ دلته يوازې له هغو تړونونو ځخه يادونه کوو، چې اقتصادي اړخونه او د نړۍ د اقتصاد په هسته کې کره ونډه لري. له دغو تړونونو ځخه کولې شو، په لاندې توګه يادونه وکړو: د اتو سترو صنعتي هېوادونو ډله، چې د يوې ګډې موخې، يعنې د اقتصاد نړيوالتوب پر بنسټ او د درېيمې نړۍ له هېوادونو سره د مرستې دپار سره راټول شوي او د دغه تړون بنسټ يې ايښي دی.

همدارنګه بل اقتصادي تړون د اوپک سازمان دی، چې د نفتو د صادرونکو هېوادونو سازمان بلل کيږي.

دغه سازمان په نړۍ کې د نفتو د ناورين تر رامنځ ته کېدو وروسته د نړۍ د نفتو د ځو توليدونکو هېوادونو د يووالي په پايله کې رامنځ ته شو، چې ګډه موخه يې غړو هېوادونو ته د زياتو عوايدو ترلاسه کول او په نړۍ کې د نفتو د بيې ثابت ساتل وو.

په همدې ترتيب نور تړونونه لکه د شانګهاى د همکاريو سازمان هم د ځو هېوادونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترمنځ د ګډې موخې پر بنسټ جوړ شوی، څو د اقتصادي مسئلو ترڅنګ، د سیمې امنیتي موضوعګانې د خپلو نظرونو په قالب کې وارزوي. خو بنسټیزه موخه یې د غړو هېوادونو په اقتصادي وضعیت کې د ښه والي او پرمختیا رامنځ ته کول او همدارنګه د غړو هېوادونو ترمنځ د یوې پرانیستې سوداګریزې ساحې ازادول وو.

همدا راز بل اقتصادي تړون د ایکو په نامه د څو هېوادونو له خوا، د ګډو موخو له مخې رامنځته شو. د ایکو سازمان مهم ګډ هدفونه، د غړو هېوادونو د اقتصاد وده او په سیمه کې د نورو ګډو ستراتیژیکو موخو تعقیبول دي. همدا راز د دغه سازمان په موخو کې د منځنۍ اسیا په سیمه کې د پخواني شوروي اتحاد له احتمالي پرمختګونو څخه مخنیوی هم شامل و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شپږم څپرکي پوښتنې:

۱. د نړۍ د اقتصادي جغرافيې په اړه لنډ معلومات وړاندې کړئ؟
۲. سوداګریز بندرونه د یو هېواد په اقتصادي وده کې څه مرسته کولی شي، خپل معلومات بیان کړئ؟
۳. د هغو سوداګریزو بندرونو نومونه واخلئ، چې د اسیاپه لویه وچه کي موقعیت لري؟
۴. د هغو سوداګریزو بندرونو نومونه واخلئ، چې د اروپا په لویه وچه کې واقع دي؟
۵. په نړۍ کې اقتصادي تړونونه د کومې ساحې لپاره رامنځ ته شوي، خپل معلومات ولیکئ؟
۶. اته ډله کوم هېوادونه دي او د کومو موخو لرونکي دي؟
۷. د opec سازمان په لنډه توګه تشریح کړئ؟
۸. د شانګهای هېوادونو د همکاریو سازمان د کومو موخو لپاره رامنځ ته شوی؟
۹. د ایکو اقتصادي سازمان په اړه خپل معلومات ولیکئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سرچينې او اخيستنې


- معلومات هاي مستند انترنتي در مورد جغرافيه اقتصادي افغانستان و جهان
- سالانه احصائيوي سال ۱۳۸۷
- جغرافيه عمومي افغانستان: پوهاند محب الله رحمتي ۱۹۹۹
- معاون ارگان نشراتي وزارت معارف شماره اول دور دوم
- معاون ارگان نشراتي وزارت معارف شماره سون دور دوم ۱۳۸۷
- گزارشات مستند از وزارت تجارت و صنايع افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ښوونيز نصاب د پراختيا د رياست پيغام

د پوهنې وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت دښوونيز نصاب د انکشاف رياست د ټولنې دعيني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلينو او شاګردانو د درسي کتابونو په برخه کې يې تخنيکي او مسلکي رشتې درلودې او لري يې، په لومړي سرکې يې تصميم ونيو، چې په ښوونيزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بياکتنه وکړي او ورپسې بيا د شاګردانو او محصلينو د درسي کتابونو د تاليف لپاره مبادرت او کوښښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حسابدارۍ څانګې د ښوونکو په ميړانې او همت سره د ادارې او حسابدارۍ درسي کتابونه تاليف شول تر څو په وړيا ډول د شاګردانو او محصلينو په واک او اختيار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوستونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، ګرانو شاګردانو او د تخنيکي او مسلکي زده کړو د چارو له متخصصينو او همدا شان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صميمانه هيله کيږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښوونکو او د ادارې او حسابدارۍ څانګې د مسلکي غړو له لوري تاليف او تدوين شوي دي. د مسلکي، تخنيکي او علمي مطالبو او مفاهيمو د څرنګوالي په هکله خصوصاً د هغوی املايي او انشايي اشتباهاتو په اړهمونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخوکې ګرانو شاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شان له ګرانو شاګردانو او محصلينو څخه هيله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او استفادې پر مهال د هيواد اقتصادي ستونزې، فقر او وروسته پاتې والی په نظرکې ونيسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زيار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلينو د ګټې وړ وګرځي.

پته: دپوهنې وزارت – دتخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت د تعليمي نصاب د انکشاف رياست – دکتابونو د تاليف او د درسي ممدو موادو د برابرولو عمومي مديريت.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library